# غزلیز ماښامونه

## دبېلابېلو شاعرانو په زړه پوري غزلونه



Ketabton.com

راټولونه اوترتیب:ګلبدین(فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ددې کتاب په اړه

نوم : غزليز مابنامونه

راټولونه اوترتيب: ګلبدين (فيضان)

شاعران : پيرمحمد(کاروان)،خالد(ريحان)،ممتاز(اورکزی)،

درويش(دراني) ،ارواښادمحيب الله (بهرام)، سپين(کوچی)،محمد ګل (منصور)،شهنواز(باقر)،ثناالله (ضيوال)،نوروزخان(ذکي) نصير(آرمان)،نصير(اتل) او ګلبدين (فيضان).

دپي ډي ايپ بڼي ترلاسه کولو پته

http://solimanmountain.weebly.com

Facebook: Gulbadin faizan

WhatsApp:00923112909816

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک



| دشاعر نوم | د پیل صفحه | دپای صفحه |
|---|---|---|
| پیرمحمد(کاروان) | ۱ | ۲۳ |
| خالد(ریحان) | ۲۳ | ۳۴ |
| درویش (دراني) | ۳۵ | ۴۷ |
| ممتاز اورکزی | ۴۸ | ۶۲ |
| محمد ګل (منصور) | ۶۳ | ۶۹ |
| باقر | ۶۹ | ۸۴ |
| محیب الله بهرام | ۸۴ | ۹۲ |
| سپین کوچی | ۹۲ | ۱۱۰ |
| (ضیوال) | ۱۱۰ | ۱۱۹ |
| نصیر(آرمان) | ۱۲۰ | ۱۲۸ |
| (ذکي) | ۱۲۸ | ۱۳۲ |
| نصیراتل | ۱۳۲ | ۱۴۴ |
| فیضان | ۱۴۴ | ۱۵۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

سبا چې سر زمـــــــــا په تيره د لحد لګيږي

راځه چې نن مـــې زړه له تا سره بې حد لګيږي

صمد به عـــــــــفوه راته کاندي د صنم د مينې

په زړه مــــــې خوږ چې قل هو والله احد لګيږي

ښـــــــــکلا پلويه له پښو هغه بدرنګي غورځوه

چــــــــې د لاس تيره يې په غاښ د محمد لګيږي

پـــــه يوه داسې کيف مين يم چې له ښه نه ښه دی

د شپـــــې د ستوريو ډک آسمان به په چا بد لګيږي

لکه ليـــــــــــــــنده کږه له لرې نخاګره ښکلا

مقصـــــد مې زړه دی مقصد غشی په مقصد لګيږي

چې سُر و تال د بوډۍ ټال ټول د کاروان دي ياران

له ګلــــــــــــغزلې له نغمې سره يې خود لګيږي

پيرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

زړه زمری دی بس خطاوې به ترې کیږي
د هوسیو سترګو غلاوې به ترې کیږي
یو انسان دی مهربان دی غوسه کیږي
کله کله تاوې ماوې به ترې کیږي
لېونی دی په واده کې په ژړا شي
په لمانځه کې هم خنداوې به ترې کیږي
چې ګلونه یې ګېډۍ ګېډۍ خوښیږي
نو ګېډۍ ګېډۍ دعاوې به ترې کیږي
واورې ووې زما خور ده نوم یې سوله
ها چې راشي نو موسکاوې به ترې کیږي
ماشومان چې له جګړې نه مرور دي
شي پخلا به مشغولاوې به ترې کیږي
سره زخمونه به په سرو غاټولو واوړي
ژېړبخونې شان رڼاوې به ترې کیږي
د کاروان غزلې مستې جینکۍ دي
چې په خود راشي ګډاوې به ترې کیږي
پیرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

شعرونو سوداګرۍ شـــــــــــرابي غزل په څو دی
د الهام پرخو پریولی ګلابـــــــي غزل په څـــــو دی

زړه مې بیا دغم په لاس کې دغمونو څپــــــې راوړې
ستا د برندو برندو سترګو عقابي غزل په څـــــــو دی

د لیمو له خانقا یې صوفیانه غزلې غـــــــــــــواړم
داسې چېرې هم نه وایم وهابي غـــــــزل په څـــو دی

ما دې نوم په سپینو اوښکو پـــــــــه زیړي نرګس لیکلی
نرګسي غزل په څــــــــــــو دی شین ابي غزل په څو دی

چې شعریت په کې موسکۍ وي چې کاروان یې په یاد وایي
ســــــــــــتا د مخ د سپینې پاڼې کتابي غزل په څو دی
پیرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

که يبلې پښې پر تودو تېغنو ودرېدلی يـــــــمه
د غنمرنګو لونګين ته رسېدلـــــــی يـــــــمه
په تلليو سترګـــــــو پسې ډېر ډېر ژړېدلی يمه
ته به ويـــــــده وې د آسمان ستوريو لېدلی يمه
درست ماشومتوب را باندې سترګې تورولې ادې
د رنـــــــــــجو سيند يمه له سترګو بهېدلی يمه
د نيمو شپو ســـپوږمۍ را ګوري راته غږ نه کوي
غريب مارغـــــــه يم په ځنګل کې چغېدلی يمه
زخمي آواز مې پر جـــــهان راګ د سُرور لګيږي
د زړه تر څنګه پـــــــــــــــه وزرو لګېدلی يمه
ژوندی پژواک يم دوی مې وژني خو را و خېژمه
ګني نو څو ځله ګړنګ ته غـــــــورځېدلی يـمه
د زړه د سر هره تناکه کې مـــــــــې توری توری
غزل غزل دې کړمـــــــــــه ګل ګل غوړېدلی يمه
لکه د اوښکو د کـــاروان مې ترېنه مـــه وباســـئ
چې يـــــــــې د سترګو په جنت کې لوبېدلی يـمه

پيرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

خدای ته وه روانه وزر سوي پرې يې غـــــــاړه وه
بيا زمونږ ژړا تر موټر بــــــم لانـــــــدې ولاړه وه

اوښکې په اوبو کې وې بېـــــګا په روژه ماتي کـــــې
چا مو وې خرما رېبلې ژوند مو دښته شـــــــاړه وه

زه د خدای په در کې د خپل کور په دعا بـــــوخت ومه
ماته ګاونډي کړې د خور او د مـــــــــور زياړه وه

ما چيغې وهلی نه شوې چوپ د زړه په کونج کې ناست
وچـــــــــه مې په ستوني کې د کاڼي په څېر لاړه وه

دا غزل کاروانــــــــــه د وطــــن د بُورو،ورارو غږ
دا غـــــــــــزل کاروانه د شـــهيدو وينو ژباړه وه

جوزا ۱۳۹۶ ۱۱

کابل افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تږي ګلاب راته وې، نرۍ باران خـــــوږ دی
خو ما دا نه منله، ما وې جـــــــانان خوږ دی

سهارنۍ بلبلې، ورســـــــــــــره مله کړه نغمه
د غره په خوا کـــــې کليه، ستاسو اذان خوږ دی

چې ته د ګل غوندې يې، که ګل د تا غوندې دی
اې په ايمــــــان و وايه، کوم يو ګومان خوږ دی

په يوه سرې مېَنه، مسته د خيــــال بناپيــــــرۍ
ور غاړې وتې وايي، په خدای انــسان خوږ دی

غنم غنــم خوږه ده، بــــــــنتِ آدم خــــــوږه ده
هو د حــــــــــوا پر خالق، ايمان ايمان خوږ دی

نړۍ به هم خوږه وي، د توري ګوړې پـــــه شان
لکه انګور د ميزان، افغانستان خـــــــــــوږ دی

ورکړه د خدای ده کنه، تورسترګې ويــــــــې منه
سترګې به ستا وي خوږې، شعر د کاروان خوږ دی
ثور-۱۳۹۶-۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

چې ورته خولې شوې داصیلو مرغلرو اوبـــــه
خپلو خبرو ته دې ورکړې د سندرو اوبـــــــه
ستا د تصویر تنکیو پښو ته شیشې مه شه لـــشې
په کاڼو چېرې ماتې مه شه د جوهـــــــــرواوبه
زما د زړه د مینې زور پاس په لــــــېمو کې ګوره
په بره خېژې اشنا تــــــــل د زورورو اوبـــــه
خدایه ! باران د مینې راوله پر وچـــــــو للـــمو
غواړي ګلان لکه د تږو مســــــاپـــــــــرواوبه
ګودرې شاړې منګي مات دي په کې ځاځکی نه شته
ستا د لاســــونو د جوړه شپـــــــینو کوترو اوبـه
پرګلو ځاځي کوم د مینې پېغمــــبر ژړلـــــــې ؟
د شــعر د شاتو د مچـــــــــیو له وزرو اوبـــه
کله چې لـــــــــیکي خپل صنم تــه صوفیانه غزله
قلم ته واچــــــــــــوي کاروان د نیلوفر اوبه

پیرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

امــام و لـه قيام را غـورځېـدلـی پـه جـومـات کې
سجدې پـه وینو سرې وې بم چاودلی په جومات کې

مات غشی د پولادو ، د قاري پــــــــه حنجره کې
قران و پاڼې پاڼې سوځــــــــــــېدلی په جومات کې

سیلۍ وه د سرې اوسپنــــــې ناڅاپــــــــه را الوتې
ګل ګل د دعا لاس و ریږدیدلی په جومات کـــــــې

او پلار يې مات رحيل لکه خپل زوی غېږ کې نيولی
لښتی د اوښکو وینو بهېدلی په جومـــــــــــــــات کې

الف د یوې پرې ژبې پر سر پـــــــــه وینو سور و
د میم توری په زړه و لګــــــــــېدلی په جومات کې

زوال يې خدایه کـــــــــــبر کړې په روی د ملایکو
شیطان له خــــــــــر مستۍ و ګډیدلی په جومات کې

پیرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

دا دې موسم دی مهربانه کـــــه وطن ته راځې

درد په وطن کې دی درمـانه که وطن ته راځې

خولې مو ګــــــنډلې د فولادو په تارونو یو چا

زمونږ د سترګو تـــــــرجمانه که وطن ته راځې

تږې ګلونـــــه یې په غـــېږ کې مړغیجن دي ولاړ

د مــــــــــینې شړکنده بارانه که وطن ته راځې

جـــــامې د امن د لمر واغونده سهار به مو شې

د جنګ په شپه ورکه جانانه که وطن ته راځـــې

بې تا سرغوڅی سِتان پاتې دی تاوان دی تـــاوان

افغانستان به شي افغانه که وطن تـــــــــه راځې

مړ به له غم یم چې تابوت دې لـــــه یونانه راځې

شم به ژوندی ، ژوندیه ځوانه که وطن ته راځې

لکه ټپې دي درپســـــــــــې ټولې شملې لوپټې

زمـــــــــا زار زاره یاقربانه که وطن ته راځې

د کاروان زړه شولو نری نری تار تار در پسې

شــــې به امېل دُر و مرجانه که وطن ته راځې

حوت ۱۳۹۵ هجري شمسي ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

بلومه په ډیوو کې دعاګانـــــــــــــــې

نیمه شپه مې په لېمو کې دعاګانـــــــې

له تسبو نه مې تارونه دي را ویستـــــې

غبرومه په نغمو کې دعاګـــــــــــــانې

ظنازي یې په لفظونو کې نازي کـــــړي

په غزل په زمزمو کې دعـــــــــــاګانې

د رندانو سترګې برندې را پســــــې دي

کړنګومه په پیالو کې دعـــــاګــــــانې

کړه مې لپه میناتور جام د مـــــــرجــانو

تنده غریه ښنه اوبو کې دعـــاګانــــــې

د برکلي به وي سخ چې وي د ســــــولې

پیغله ناوې په چمـــــــــبو کې دعاګانې

کچ او مېچ د چـــــــا د لېچو را سره دی

مړې یـــــې مــه شه په بنګړو کې دعاګانې

و کاروان تــه یې تورسترګې کړي ور یادې

پــــــه دې ورځو په دې شپو کې دعاګانې

دلو-۱۳۹۵-۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ډېر شـــــــــي له بې قدرو نه غمي په تيرو مات

شته دي ابـــــــابيل پــــــه غشو ولي د جومات

ونيوه لـکی د دجال دې نـــــــوي حـــــــاجي

حق يـې تر پښو لاندې ، و دروي لات و مـــنات

راښـکه چليپا ټپوس پـــــــه پَرو د طــــــاووس

وايي چې دا ولې يې رنـــــــــګونه دومره زيات

پټ شه په خلوت کې د دوران لـــــــــه نـــقادانو

نارزي ورتـــــــــــه دوه توته يو پير د خرابات

وا کاروانه مه شه ګيله من له جاهلانـــــــــــو

دوی تلي په تله د لرګــــــــيو ، مناجــــــات

پيرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

نه مې له خيام نوشلي نـــــــــــــه مې له غنـــي شراب
ولې مــــــې غـــــــــــــزلې خلک بولي لـــېوني شراب

ټکــــــــــــــنده غرمه مې ميخانه ده پـــه کې لمر ساقي
شپه کې شي سپوږمۍ ساقۍ او ستوري مې شپني شراب

ناسته راته څَو ، کې يوه مستـــه نــــــــــظربــــــازه ده
خود به جوړومه له لمبــــــــو د سپـــــــــــېلني شراب

نن د چا زَړو سترګو له حـده ډېر بېخــــــــوده کـــــړم
رند خرابوي چې ډېر يې غـــــــــړپ وي ځنډني شراب

دوې ډکې پيالې رانه پـــه منډه مــــــــــنډه وې
دوې غرڅنۍ سترګـــــــــــې وې نظر يې غرڅني شراب

هسې مې غزلې د نـــــــــرګس غـــــــوندې نشه نشه
نوش مې دي د غره اوبه خو نه د جرمنـــــــــــي شراب

دا راوړي تا له کـــــــوم جنت وو جنتـــــــــــي يې کړم
وا کاروانه تا خـــــــــــــــــو په ما څښلي ګبيني شراب

پيرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

د غشو سترګې پې ړندې شه خو پې سرې مـــه شه
ستا د ګوربت د لوړ الوت وزرې پرې مــــــــه شه
ستا د شپېلۍ نغمې نغمې په کې زرغونـــــــې اوسه
د غره شپونکیه ستا له غږ تشې درې مــــــــه شه
ایله زخمونه مو د زړونو سره اوس ورغلـــــــــې
د بېلتانه په ساندو بیا ارې ارې مـــــــــه شـــــــه
ستا په دې زړه کې چې د ژوند څوکې په ناز ووهي
د چمــــــــــــبه مارې د چارګل ماتې پَرې مه شه
ستا د چلم پر ســـــــــــرخانه دې وي سکروټې بلې
مسته ملنګه مینـــــــــه مـــــــینه دې ایرې مه شه
د موسی خدایه د مــــــــــــــــیَنو شــاعرانو خدایه
د کوهِ طور د سر شپونکی دې بې اســـــرې مه شه
چې ستا کاروان یې له نغمو نه زر غزلـــــې جوړې
د چورکوندي د بلبل چوپې انتَرې مـــــــه شـــــه
پیرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

لمونځ مې يې کافر به شمه څنګه دې قضا کړم
راشه چې دخپل زړه په خلوت کې دې ادا کړم
ته دقدر شپه يې خو په شپوکې رانـــــــــه ورکه
تاپسې به ډيرې اوږدې لــــــــندې شپې رڼا کړم
غشـــــــــــي راکـــوه چې اژدها په تندي وولـم
موســـــکه راته مه کيږه چې نښه به خطا کړم
زه هغه مجنون يم چې مې زړه خوره کيږدئ کړ
ګورې به ليلابه له وچ ډاګه راپـــــيدا کــــــړم
دين دپښتو نغښتئ دملالې پـــــــه تـــــــپه کې
دا دټپو ژبه به له خدای ســــــــــــره آشنا کړم
ډول به شم اټن به شم شغا به شـــــــــــم دځنو
بيا به طالبان دجومــــاتـونو په ګـــــــــډا کړم
خاورې يم خو لمربه تـــرلاس ونيسم که خيروي
ستورى به شم پاس به له سپوږمى سره خنداکړم
بيا به دغاټولو دغه لوټ کــــــاروان راټول کړم
لاس به په سپرلى واړوم زر بــــــه يې پخلاکړم
پيرمحمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

دا بـــــــــه کرامات لري له تيږو اوبه وباسي
ځيني ځيني ســـترګې له سږي ځيني زړه وباسي
هغه چې ماشومه وه اغزي مې يې له پښو ويستل
را دې شي له زړه مـــــې دې ويشتلي بانه وباسي
ناڅاپه شهنده شي په شـــــــغ راشي حمله وکړي
خرپ شي په پنجو کې له پنجرو نه مارغه وباسي
عشق چې زورور شي د طوفان وزرې واغوندي
لويې لويې ونې لکه مـــــــــــــازې وابنه وباسي
دا سترګې د کوم يوه زرغون سـمندر خويندې دي
بيا په څپو راغلې چې به څوک لـــــه کاله وباسي
دا ځلې دې داسې لېونۍ مينه ملـــــــــګرې شوه
يا به دې شي لمونځ او يا به تا له لمانـــځه وباسي
سخ به دې کاروانه وي که ښکلې لاروۍ دې شوه
دا به درته لار په تور کمر کې د غره وبـــــاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

را غورځېدلي د غــــــرور له اوچت غره دي سره
د يــــــو د بـــــل په لوغړنـو وينو سره دي سره
د خاورو لوښی شه پاخه دې شي خو مړه چې نه شي
ياران په خپلو کې بس اور دي او اوبـــــه دي سره
دا چې سرونه سره ريبي ماشومان خـــــو لــــري
ترمنځ يې خدايه راشې غوښه او چــاړه دي ســــره
خلک د يو د بل په سترګو کې لا خـاورې شــينـــدي
داسې موسم را چې بس يو بل ته رانـــــجه دي سره
کبلي چې روي د غرڅې له تي شيدې د، ريـــــدي
دښتې زرغونې وي شپيلۍ دي او شپـــــانه دي سره
لکه اوبو کې شي بوره لکه ډوډۍ کې مــــــالګه
بيا به له زړه وايو چې دا خلک خواره دي ســــره
چې سره غيږ په غيږ شي توري ښـــکلا و زيږوي
دا هلکان جينکۍ خوند کا چـــې واده دي ســـــره
د وطن شپه لري سپوږمۍ او هـــم د ستوريو کاروان
سبا به ګورې چې مين په لمــــــــر خاته دي سره
جدي - ۱۳۹۴ ۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

مه يــــې وژنئ ماشومان دي ارمانونــه
موروطن باندې مې ګران دي ارمانــونه
روژه مــــــــــاتي ته لا نه دي رسـېدلي
د خُرماوو پـــــــه ارمان دي ارمــانونـه
د طاووس د زرغـــــــونو بڼکو ورونـه
ښکلوونکي د قـــرآن دي ارمانونــــــــه
وراري مه شه د وطـــن ملالې خویندې
شنه غمه يې د پېزوان دي ارمـــانونــه
د ګلاب ذِکر يې زخم دی په زړه کـــــې
په اغزيو کې روان دي ارمانونـــــــــه
په خنجر که د موچي په تار حـــلال دي
د شهيد افغانستان دي ارمانـــــــــــونه

پيرمحمد (کاروان)

عقرب -۱۳۹۴ -۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زړه چې غلې غلـــــــې د چمبې غوندې درزا کوي
نجونې د لــــــــــفظونو مـــستې مستې شي ګډا کوي
رايې شه ســاحل ته مرغـــــلرې به در وشيـــــندي
کله چې سخي سمندر شـــــــور کـــوي غوغا کوي
ميـــــنه جــــــادوګــــــره ده پر هر چايې منلی ځان
څوک به يې په جار وايي خو څوک به يې په غلا کوي
دا ښکلې چې ځان يې په اوو پـــــــــردو کې و نغاړه
وګوره سپين سترګي هم ترې وېـره او حــــــيا کوي
لېږې يې سرونه دا کتار د بيــــــابان غاټـــــــــول
دا خو تږو تږو مسافرو تـــــــــه دعــــــا کـــــوي
راغله او پر هاغه پاس کنډو بــــــاندې را واوښتــــــه
اې دا خو تورسترګې ده خو تـــــــــکه شنه رڼا کوي
ستا کاروان شاعر نه دی خو ته چې ورته موسکه شې
بيا نو دا ساده سړی په شعـر کې هم بــــــــلا کوي
عقرب -۱۳۹۲ ـ ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نــه په ستن او نه په تار پسې روان دی
ګرېوان څيري ځي په يار پسې روان دی
دی د لـــــــــــېچو له ليندو را وتـی غشی
مرغۍ نه و لي پـــه مار پـسې روان دی
په رباب کې په اوبـــــو او په بـنګړو کې
پسې ځي په شرنګهـار پســــې روان دی
تر غچۍ ګوتې د زړه ، نيولی مــــــينې
د ښکلا په ورک ديـــــار پسې روان دی
له نارو يې تش لفــــــــــظونه ډکوينه
ځي د زانو په کتار پــــــــسې روان دی
خيال کاروان ته رام پري پـــــه کجاوه کې
زرين اوښ يې دی مهار پســـې روان دی

پيرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

شـــاعران یـــو په نغمو یادوو خدای
ښکلـــــي ګورو ، پــه لېمو یادوو خدای

خدای بلد کړو د توبو په مـــــــــــاتولو
غړپ کوو له پیمانو یادوو خـــــــــدای

شېخ د کانو په تسپو یادوي خـــــــــدای
موږ د اوښکو په تسپو یادوو خـــــــدای

د ژوندون په ګوتو برګی تســــــــــپې وایو
هم په ورځو هم په شپو یادوو خـــــــدای

یم هیرجن چې هیر مې نه شي راته خانده
ســـــــــــتا له شونډو اننګو یادوو خدای

ایا تونه دې په سترګو کې موســـــکي دي
ستا له سترګو پښتنو یـــــــــــادوو خدای

موږ کاروان د لېـــــــــونو ازادي غواړو
په کړی د زولنو یـــــــــــــــادوو خدای

پیرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

موسکه شه جانانه ستا دمړواوښــــکوپه شان یـــم
راشه زرغونتال مې شه نری نـــری باران یـــــم

راشه دځلاندوسترګووالې توره شــــــــــــــپه ده
لاره رانــــــــه ورکــــــــــــه مـــــسافردبیابان یم

ښکل دې چې پرتندِه کړمه ښکل دې چې سجدې کړم
خـــــــــال مې کړه پرتندِه چې ددوو وروځوترمیان یم

ته زما اختر زما سبب دخوشـــــــــحالئ یـــــــــــې
شین مې له خنداکړه یوماشوم غوندې ارمــــــــان یم

جاردې له خنداشمه چې شــــین دې له خنـــــــداکړم
ستاله برکته خودســــــــتوروډک اســــــمان یـــــم

ستا پرتندِه پریوتم پـــــــــــــرځـــــان مې شک پیداشو
ګوره چې کاروان یم که ســـــــــتاڅړیکه دپېزوان یم

پیرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

د ځاځکو په لپمو مې سمـندر لیدلـــــــی دی
په ټولو آیینو کې مې دلبر لیدلـــــــــــــی دی

شهید مازیګری کوي شغلې لکه حـــــــــسین
شفق مې سور په غشو د شمر لیـــــــدلی دی

له زړه مې چې کړي جوړه وچو شوندوته کوزه
ورځــــــــــم پسې چا داسې کوزه ګر لیدلی دی؟

دا مستې مســتې اوښکې چې جوپې جوپې راځي
دې پیغلو مـــــــې په سترګو کې ګودر لیدلی دی

بتګر د تخیـــــــل مـــــې جوړه وي بت د جانان
په روح کې زمـــــا کان یې د مرمر لیـدلی دی

ته پوې یې چې دا ځنګه شـو کاروان غزل غزل؟؟
دانن یې ایله یو نظر خــــــیبر لـــــــــیدلی دی

پیرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

په زړه مــــــــې ولـــــې راورېږي څه باران خـــو نه يې

هســــې مې درد راوينوې زمــــــا درمــــــان خو نه يې

د مــــــــخ په پاڼـه بــــه دې څـــــه خوږه غزله ليک وي

سپينـــــه کـــتابه يــــادوم دې دومره ګـــــــران خو نه يې

د خيال ځُــــــد ځُـد دې راته ډېر ډېر پـيغامــــونه راوړي

دا مــــې خـطا وه چــــې ويــــــل مــې سليمان خو نه يې

ستــــا د ستم د انـتــها به درتـــه څـــــــــــــه وايـــــمـه

د کــــــوم ظـــالم مـذهـب پيرو يې مـــسلمان خـــو نـه يې

مــــــا به بې وخـــته لېونی کـــړې په اغـــزو به ګرځـــم

غېږ به رانه کــــــړې ښکليه باغـــــــه بيابـان خو نه يــــې

د ژوندد وچ ساحل په مخ مې لمدې شــــــونــــــډې نه ږدې

شـنه سمـندره زه دې څــــــه کـړمه توپـــــان خو نه يــــې

د نور پـه غشو مـــــې له هسک نه په لېمـــــــو کې ولــــې

نه راځـــې ستـــورى د اسمان شوې مهربان خــــــــو نه يې

ښکليه ســـــالار کـــــــه مې د عشق د منزلونو نــه کــــــړې

بيا راته وايه چې درواغ وايې کـــــــاروان خـــــــــو نه ي

پيرمحمدکاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ښار دهوښيارانو دی اوزه دغره سړی يمــــــــه
تورې زولنې راپسې ګرځي ليونی يمـــــــــــه

ورکې مې تسبې دي دزنځير په کړی ذکرکـــــړم
زرځله شهيديمه او زرځله ژوندی يمــــــــــــه

هره يوه مسره مې بس دتورو وينو لپــــــــــه ده
نه يمه شاعر دسروغاټولو کنډولی يمــــــــــــه

مانه شيشې مه تاووه زه خو څه څراغ نـــــــــه يم
نه مرم په طوفان کې عجيبه اور اورکـــــــــی يمه

تاپه سپينولاسو باندې سين ته ورګوزارکــــــــړمه
کاڼی ومه تور خو اوس له شوقـــه شين غمــــی يمه

ځان مې په مريو کې دتار غونـــدې پټ کــــــړی دی
زه دکومې چټې پرتټرباندې ځـــــــــونډی يمــــــه

کوڼ که وي جرس نو خپل ويده کاروان به ويښ کړمه
مـــــــات به شم په شرنګ دليونی دلاس بـــنګړی يمه

پيرمحمد(کاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

اخ ستا یادونــــــــه پې راتول ښه دي
پردیس حـــــواس مي غزلبول ښه دي

دغنمــرنګ پــه زنـــخدان مــي نظر
لیمه د بــــــنګو پــه کـــــنډول ښه دي

لیژ التفات مي سوري زړه ته وکـــړه
ګرانه! پټري په دې کچکول ښــــه دي

مړه په ښکلیو کي نو څه توپـــــیر دی
مړه پریږده يې ښکلي ټول ښـــــه دي

سترګي، لیمه، وروزي، بانه، خالــونه
قاتلان ټول د دې کهول ښــــــــه دي

"ریحانه چاته ور یـــــــادیږې پوري"
"د چم په دښتو کي غـــــاتول ښه دي"

خالد(ریحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چې نظر د کبرجنو ورتـــــــــــه برند شي
لیږ دي پاتې پـــــــــه هنداره دغـه دند شي

د دې ښـــــــــکلو عجیبه غوندې بازار وي
کار دي نه وي، خو بس کار دي پکې بند شي

د ځوانۍ له زوره مستې هسې نـــه چــــــې
رانه مات دي په نازونو کي مړونـــــــد شي

دا پی مخي د پیریــــــــــــانو په شان بویه
خدای خبر چې په اسانه مـــــــې په بند شي

د غزل جاغور دي تش کړمه پـــــــه حسن
چې را ډک مي د خیالونو کمربنـــــــد شي

ریحان پرېږدئ د څلورو سترګو جـــنګ ته
فکر نه کړم چې قایل به د اوربنــــــد شي
خالد(ریحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

انـــقلاب وو له هيواده وو وتلي
زنده باد له مـرده بـــاده وو وتلي

په ظاليم پسي روان وو لکه غشي
اسويلي مـــــو له فرياده وو وتلي

پوليتې مي تېېدې د هيلو ورو ورو
څراغـــــونه مي له باده وو وتلي

دوه غمبـوري دي جانانه راسره وو
دوه جهانه مـــې لــه ياده وو وتلي

ستا د سترګو له پېچلي فلسفــې نه
سواداره بې ســــــــواده وو وتلي

دريحان د غزلتـــوري مســافر ؤ
دخـــــــالونو لـه بلاده وو وتلي
خالد(ريحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

جانان په روغو پښو روان دی او زه شل ورپسي
پـــــه زړه چاودون به لنډوم دغه مزل ورپسي

ماوېل را وابـــه ړوي مخ رانه ور وابه يې خلي
نن مي نيولی وو تـــــرکوره پـوري ګل ورپسي

سپينه خولګی دي لکه ســـوله تر دوزخ له اخوا
کابل زړګی مي په سکروټو کـړي مزل ورپسي

تا راروانی غبرګي سترګي په نازونوکړلــــــې
ما ارمانونه کړل پياده دزړه په تل ورپســــــي

په هديرو کي دشهيد وطن راو ګرځمــــــــــه
دخيال څراغ وړمه په نيمو شپو کي بل ورپسي

دنظرغله به دي اخبر د زړه په غلاونيســـــي
ريحان اخيستی د لېمو په لاره پل ورپســـــي
خالد(ريحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

د سترګو توره ګُذاره نـــــه کيږي
بې له تا ګوره ګُـــــــذاره نه کيږي

غېږه دي راکــــــړه اوبه رنګه ياره
د عشـــــق له اوره ګُذاره نه کيږي

راباندي مات چي مړوندونه نه کړې
د بنـــــــــګړوشوره ګُذاره نه کيږي

ما د غربت لـــــــه لاسه ډېره کړې
چا وېل بې مـــوره ګُذاره نه کيږي

تږی غاټول يــــــمه دتــږي دشتي
راباندي اوره ګُـــــذاره نـــه کيږي

مسافری مي زړه اوبـــــه کړ
ريحانه نوره ګُذاره نه کـــــــيږي
خالد(ريحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

دې کيسه کې نه يمه چې شنه دي او که تـور بنګړي
بس چې سلامت وي مړوندونه، کوي شـور بنګړي

مات دي کړل؟ قربان دي شمه زر واري له نازه نه
زه خو لاژوندی يم درته رابه وړمــــــه نور بنګړي

دې کوڅه کي ورو ځه! په زامـــنو بوره موراوسي
هسي نه په ليڅوکي دي واخـــــلي ګلي اور بنګړي

مـــــــابه ترې د دوه ضرب او دوه پوښتنه وکړه له
دابه نو (کاروان) وو چې ځواب يې وو څلور بنګړي

دا خــــــــو دي ريـحانه! دشاعري اروا ناز وړمه
هره پنشنــــــــبه دي شرنــګومه چي په ګور بنګړي
خالد(ريحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پـه هډوکو په خرمــــنه پسي ګـرځم
دلـته شوې ده چــــاودنه پسي ګـرځم

دمرګي کچکول مي غاړي تـــه لوېدلی
د بـارودو پـــــــه بســپنه پســي ګرځم

زه پښتون يمه، د ورور په غوښو پايم
شه په خرپ په ورور وژنه پسي ګرځم

چــي غاټول ته يې دخال زکات ورکړی
اوس پــــــه هغه غونډه زنه پسي ګرځم

ستا تصوير مي که په زړه کي روغ پيداکړ
په سکروټـــــــو کي دي ننه پسي ګرځم

چي يې سيوري تـــــه دمه وکړم ريحانه
دخپل ځان په ورکـــــه ونه پسي ګرځم
خالد(ريحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زما خو را په زړه دي، تـــــــــاته یادیدي نازکې؟
تودې تودې غـــــــرمــــې، هغه سرې سرې مچکې

لومړی ځل یې په کړس کړس په غصه کې دي خندلي
لومــــــــــــړی ځل په جوزا کي وربدلې دي څپکې

په زړه مي یې ګلابه!! تابه هم ســـــــــتایم قربـــــان
غاټول مي تخیل ته دښکلا ایښي تلـــــــــــــــــکې

چي سترګو ته دي ګورمه نظر مي نوراني شــــــي
د حسن له اسمانه دي راښکته ملایــــــــــــــــکې

تخنیرم، په لاسونو مي نــکریزي کشیدکـــــــــــړې
ریحانه! له غمبورو مي درټولي کړه پیچــــــــــکې
خالد(ریحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ځه وخـــت ؤ هى موضوع به سندريزه وه ليلو

چـــــــــي سوله به د هر کتاب سريزه وه ليلو

پيري د عـــــاشقى به دي لـــه ډاګه ډاګه ويشتم

دا کوده دي د ســـــــــترګو لــه تعويذه وه ليلو

غوصې ته به دي ځه خوږه مسکا کړله ورګډه

ادا دي په هر حال کي سولـــــــــييزه وه ليلو

زما نبض دي وکوت د خولګۍ نسخه دي راکړه

په دې باب دي څيړنه هر اړخيزه وه لــــــــيلو

بڼو وروزو پيچکو دي کړ زړه رانه ولجـــــــه

حمله دي ترتيب کړي ډلييزه وه ليــــــــــــلو

قربان مي دي کړې زر غزلي ځکه له خـــبرو

لهجه دي خوندوره سيمييزه وه ليــــــــــلو

ريحان دي پوکى ورکړ د باړخو شــمو ته ورو

ته موسکه وې د شنه خال دي کليـــــزه وه ليلو

خالد ريحان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غــزل

وړمه راوړم، راوړمـــه وړم، وړمه راوړم سکروټي
دجنـــــــــــګ له لاســه په لېموکي زنګوم سکروټي

تاوده يادونه دي شپـــــــبه شپــــــبه پوکــی ورکوي
دزړه نغري کشي مي وي سرې ترسپېده دم سکروټي

چاپه دې ځمکه دبـــارودو بزغـــــــلی کرلــــی؟
په سويو ګوتو بـــــــــاندي لــوّ کوم رېبم سکروټي

دلوغړن دوران کيسې کړي دسپـــــــــرغۍ په ژبه
ورسره ناست يمه ورو ورو راغبړوم ســــــکروټي

کټ کټ خنداته مغرور يار غوصه ورګډه کــــــړله
مطلب يې داوو چي په سرو ګلو شيندم سکروټـــي

دحسن تاو ته دي تسليم يم لاس په سرګرځـــــــــوم
په سره غرمه کي دي لمبه کړمه منم ســـــــکروټي

ريحانه زړه مي د دوزخ وطـــــن له اوره ډک دی
ښکاريږي اوښکي،خو له سترګــو څڅوم سکروټي

خالد(ريحان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشئ دي واخيستې له ځانه سره غم پاتې شو
په هره څــــــوکه د بڼو په څوکو نم پاتې شو

د هر ازغي په سر دي ګورم ګلورين يادونه
د هر ازغي سر مـــــي تڼاکو ته ارم پاتې شو

ستا له يادونو سره غـــلی غـلی تـــک راکوي
غم دي زما د زړه په سر لـــکه لـړم پاتې شو

د ځواني ګل دي څه بې وخته خزان ورژاوو
ژوند مي په څوکو د ازغو لکه شبنم پاتې شو

دی تری تم دي غنمرنګ حسن غزل دې رانه
خيال مي چاودلی ورپسې لکه غنـــم پاتې شو

ريحان چي ستـــا د بيا ليدلو تـــــمنا لرله
هغه ارمان يې خاوري خاوري ترقدم پاتې شو

خالد ريحان اروابناد محيب الله بهرام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

يار ځـــــــــکه د شونډو د شکرو مـاته ست کوي
مال چي ورکوي د خداي په لار کـــي برکت کوي

کانړي ته چي لاس کـــړم نو دپـــــاسه دا اواز راسي
ځله يې دخـــــــداي له ذکــــــره باسې عبادت کوي

زړه که ورسپارې نو بېرته روغ په ګوتو نه درځي
ښکلي هميشه په امانت کي خيانــــــــــــت کوي

چا توره اخستې ده په دې دنيا خپل حق غــــــــواړي
څوک ودې ته ناست دي چي حساب به په قيامت کوي

زه د شک په سترګه د لستوني مـاـــــــــر ته وګورم
دوی وايي درويش خو د دوستانو هم نفــــــرت کوي

درويش (دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چي نه بیا توره پورته سي نه سر پـه وینو رنګ سي

بـــــــاداره دغه جنګ دي د وطـن آخري جنګ سي

که زړونــــــــه سره یو کـــړو او لاسونه سره ورکړو

دا کاڼي به لـــــعلونه ســـي، او دا بوټي به لونګ سي

تر څو به دوی پــــــــــه کلي کلي ګرځي دا به وایي

چي دا مېنه دي ورانه سي او هغه کور دي رنګ سي

زموږ ځلمي چي جنګ ته هڅوي نـــــــو ور تـه وایي

چي هسي که مو کښېښودې نو توري به مـو زنګ سي

که ګورې له لستونیه به یې سور خنــــــــجر راووزي

درویشه! چي روان درسره څوک دلته پر څـنګ سي

درویش(دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

له بدو ځرنګه لاس واخــــلي چې ضمیر نه لري
شیطان به وتړي په څه بــــاندې، زنځیر نه لري

هر څه په خپله خوښه کاندي، بل ته غوږ نه نیسي
زړه د بدن داســـــــي باچا دی چې وزیر نه لري

خپل خیرن زړه به نو په کومـــه رڼا باندې وینځي
که سړی ټول عمر خوشاله وي او ویـــر نه لري

زما زړګـــــی به هم تل نه ګوري د غــشو لاره
او ســـــتا باڼه به هم مدام داسي تاثیر نـــه لري

دا دومره ژر چې ټولوي درویشه داسي ښــکاري
چـــــې له جهانه د تګ نیت د ښار امیر نه لـــري

درویش(دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دامنــــــم چي نه څراغ يــم ،نه سهـــــــــاريم

مګربياهـــــــم دتيارو دسترګوخـــــــــــاريم

مـــــا و تا بـــــــه هم اخرغــــاړه غړۍ سو

دا په دا چي ته ښيــښه يې ،زه غــبـــــــــاريم

ستــــــــــورو تاسي لاڅــــــه نورانتظار وکړئ

زه دمځـــــــــکي دسپېرو خـــــــاورو په کاريم

خوښه ستاده چي په کوم شکل مــــــــي غواړې

زه خوچـــــــــاوته اغزی چــــــاته بهــــــــاريم

زه درويش بيرته دځـــــــــــــان په طرف باندي

را روان يم خـــــــــو تراوســـــــــه لاپه لاريم

درويش(دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هیڅوك نه غواړي چې ښکلي پرېشان شي
بس لــــــه لرې ورته وګوري روان شي

دا چې هره ورځ ورکـــــېږي دلته زړونه
هسې نه چې ټول په تا بـــاندې تاوان شي

زړه مې ستا ډېرو بې ورو داسې نرۍ کړ
چې رقیب شړې نو هم زما ارمــــان شي

په وړه خوله چې کــــــــوې لویــه خبره
دا ستا غشی ولې لوی تر دې کــمان شي

د درويش خاورې وجود به هم سره زر شي
که دې شونډو ته نږدې لکه پېزوان شــــــي
درويش (دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

دوير اووېري زمـــــانه ځومره اوږده شوه دلته
ځوانه راغلي وه بـــــــــلا ،داده زړه شوه دلته

هســــــــــــي خوتوره کله وږي پاتي شوي نه
خودا اول ځل دی چې دومره ښه مړه شوه دلته

هغه وخت لاړ چي که به چيغه هم راپورته شوله
نو پــه فـــــــضا کي به بــدله په نغمه شوه دلته

ســــــــــتا دراتګ اندازه داسي موږ ته ولګېده
چي لـــــــــه ګرځونو پا که هره آينه شوه دلته

خوشحالي کله ددروېش کره ورتـــــېره نه شوه
تر تابه راغله اوکرا ره به ويده شــــــوه دلته

درويش (دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

رونې اوښکې مې را اوري په لمن کې
وړم به يار لره دا ســـتوري په لمن کې

مقدره دا دې زړه رابـــــــــاندې وسو
که دې نشته خوارئ نوري په لمن کې

بيا به سر د زورور په وينو رنګ وي
وي به کاڼي د کمزوري په لــــــمن کې

دا احسان دی د سپرلي چې ستا له لوريه
ګلان راوړي تر مور پوري په لمن کې

د درويش هره مصرع دګلو ځانــــــګه
خوشبويی يې د هر توري په لمن کـــې

درويش درانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مجنون غوندې څه خلک،د لیلا غوندې څه خلـــــک؟
هر دور دي لیدلي ما او تا غوندې څه خلــــــــــــک

له ښاره د هیندارو سوداګر باسي پـــــــــــــه زوره
خپل شکل ویرولي دي بلا غوندې څــــــــــه خلک

زیاتیږي ورځ په ورځ دلته د درد غوندې وګـــــــــړي
پیدا کړې لویه خدایا د دوا غـــــــــــوندې څـه خلک،

د اوښکو په شان تت کــــــــــاندي نظر زما ده سترګو
همـــــــــــیش راځي و ماته د ژړا غـوندې څه خلک

(ژوندی ده په په ژوندون کې یې شک مـه لره(درویشه
لا شته په دې تـــــــــــولنه کې ده سا غونــدې څه خلک

درویش (دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چی دښمني یې ختم و نه ګڼي بیابه راځـــــــــــــي
د غریبانو ډیوې پام کوه هـــــــــــــــوا به راځي

د جهان ښکلي کهکشان غونـــــــــدی په ډله راغـــــلل
زما جانان خوی د سپوږمی لري تنها بـــــــــه راځي

د لمر و جنګ ته به ملګري ما یواځي لیــــــــــــږي
بل که راځي نو هم سایي غوندې تر شــــــــا به راځي

لینده که هر لور ته کړي سمه خــــــــو هدف یي زه یم
غشې که هر طـــرف ته خلاص کړي نو تر ما به راځي

په دوو خـــوا خـــوږو کی به یو راځي ضرور درویشه
که جانان رانــــــغې و مــــــــــاته نو ژړا به راځي

درویش (دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

له اشنا سره كاته غواړم چـــــي وشي
كېداى نه شي مګر زه غواړم چي وشي

چي د ښكلو پام و ماته هـــم را واوړي
په دې اړه څه نا څه غواړم چـــي وشي

دا چي نه غواړم راتګ ســـتا خو نو دلته
هغه كېږي چي زه نـــــه غواړم چي وشي

په لـــــېمو خو مو ډېر څه سره بيان كړل
څه خبري اوس په خوله غواړم چي وشي

اشـــــــــنا وايـــي يو باران د تېرو غشو
اې درويشه! ستا پر زړه غواړم چي وشي

درويش (دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

موسم بدل دی ښایي تللي مرغان بېرته راســــي
وخپل وطن ته دکډوالو کاروان بېرته راســـــــي

ستاولونه ولونه زلفي وباسم له خپلـــــــــه خياله
يوساعت پس که ګورم دغه ماران بېــرته راسي

بېلتونه دا ځل دي نوعمردومره لنډسه چـــــــي زه
په لمن اوښکي وچوم اوجانان بېرته راســـــــــي

چرته که کاڼی او تــــــــــــــــندی بياسره وجنګېدل
منځ ته به زخم دګـواښ کړوني په شان بېرته راسي

درويشـــــــــــــــه داسي به ونه سي چي زموږهديرې
سپين ږيري وګـــرځوي ټول او ځوانان بېرته راسي

درويش (دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ځي پـــــه بدو کې تر پايـــــــه ، نـه وېرېږي
دا اُمت هم اوس له خـــــــــــدايـه نه وېرېږي

چې وي پروت پر خزانــه هغـــــــه خو مار وي
ډُوی به ولې له بدايـــــــــــــــــه نه وېرېږي

!دا وطن داسې وطن نــه دی اشنـــــــــــــايه
چې اشنای به له اشنـــــــــــــــــايه نه وېرېږي

زه وېرېږمـــــــه که نـــــــــــــه،ته ښه خبر يې
خودښمن وته مـــــې وايـــــــــــــــه،نه وېرېږي

درويـــــــش اوس هــم مار له ستوني نيوی نه شي
دومره ده چـــې ترې له ورايـــــــــه نه وېرېږي

درويش دُرانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زما د اوښکو څاڅکې دي، جهان دی، نور څه نه شته
باران دی او باران دی او بـــاران دی، نور څه نه شته

کوو یـــــــــې، که هر څو د مستې مینې په سودا کې
تاوان دی او تـــاوان دی او تاوان دی، نور څه نه شته

که زه ورځنې ژاړم او کـــــــــــه زه ورپسې ژاړم
جانان دی او جانان دی او جانان دی، نور څه نه شته

زما په شان به ته هم یو وخت وایـــي چې په ژوند کې
آرمان دی او آرمان دی او آرمان دی، نـور څه نه شته

درویشه**!** چې دا دوه جهانه دواړه پرې روښــــان دي
قرآن دی او قرآن دی او قرآن دی، نور څه نـــه شته

درویش (دراني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زړه به دې نه وي خو رضا به شي زه داسې يمه
مــــــــا پورې مــه کينه زما به شي زه داسې يمه

مه غـــــــــنمرنــګه! داسې ړنګه غاړه مه راکوه
زما د هر مــــــابنام سودا به شي، زه داسې يمه

د ليونتوب پيښې مـــــــــــې مـــه کوه، خبره واوره
دا ټوکې نه دي په رښتيـــــا به شي، زه داسې يمه

سترګو کې دشت، لهجه کې تنـــده په نظر کې لټون
راځه قربان، خو وارخطا به شــــې زه داسې يمه

ته به وې څنګه، چې ممتاز درګورم څنګه به شې
خو چې ما ګورې په ژړا به شــې، زه داسې يمه

ممتاز اورکزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

بــاوري اوســــــــه خـــپل ګـــمان سره خبرې کوه
لــــــه ځـــــانه ځـه ،بيا راځه ،ځان سره خبرې کوه

که شــــوې تنــها لکه دفتر کښې په مېز ايښې غنچه
په مــــــــــخ مســـــکا ســاته ګلدان سره خبرې کوه

دې کــــتابونه ســــره کښينه،دې البم ته غوږ شه
دا ســــــــتا جـــهان وو،دې جهان سره خبرې کوه

ځه،لکه خوب په ځان راخور شه،لکه خوب وينه ځان
بـــــــــل شــه،فانوس شه،شبستان سره خبرې کوه

لـــــکه ســـــــــحر په هلو ځلو کښې د خلقو پټ شه
لـــــکه ســــــــــکنې ماښام آذان سره خبرې کوه

لکــــــــــه روان کاروان د خپلې ښکالو ردهم واوره
لکــــــــــــــه جرس تمام کاروان سره خبرې کوه

مـــــــــــــمتازه ورځ خو د مخونو په کتو تېره شوه
شپـــــه ده،د ســـــتورو ډک آسمان سره خبرې کوه

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

رحيمه!!نه کوم له ډاره خوارۍ خوارې سجـــــدې

تـــــرتا دې اورسي زما مستي خمارې سجـــــدې

دلته يو کـــس دی ځـــــان ته وايي د جنت ټيـکه دار

يو زيږ ايمـان دی ورسره او څو بيمارې سجـــــدې

اې! ته هغه يې چي سينګار دې پرســـتش کړی دی

اې ! ته هــــغه يې چې کوي درته هينداري سجدې

ستا ســـــاده توب خو ته بي حده مزيدار کړې کنه

دې عـــــاجزۍ خو کړې بې حده مزېدارې سجـدې

نه مـــــــــې څه کار تا سره شته،نه ماملـه تا سـره

پرې مـــې ږده وا سړيه څه راپسې شمارې سجـدې

اوس مـــا ته څه پته ده؟ څنګه به وي حال د زړونو

خو تنــــــدي ټول تيار دي ټولې دي تيارې سجــدې

مــــــــــــمتازه هغه نـــشاګره مونځ ګذاره هم ده

څه بخـــــــت لري د دې ظالمې ګناهګارې سجــدې

(ممتاز اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

لا تــنهـــايي احســاســـوم لا تــنهــا چـرته يمه؟
زۀ يـو ويشلـے وجـــود، زۀ لا زمـــا چرته يمه؟

لمحه لمحه تيکه تيکه خــورمه خپل ځان لګيا يم
بلا تۀ چـــرته ئې؟ راځـــه زه به بيا چرته يمه؟

نن سبــا تۀ چرته ئې ياره؟ څـــه درک څـــه پته؟
اوهـــو! رایاد شوو يـاره زه نن سبـا چـرته يمه؟

د ځان د ننه د بندي باغي په خوا کښې ناست يم
خـــدايـه د نور صبر، د نورې چپتيا چــرته يمه؟

مــمتــازه ټوله دنيا ده زمـــا ځــه وي به چې وي
خــو که ريښتيا وايـــم د ټـــولې دنيا چـــرته يمه

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زړه کښې به خداے دروړم درود به په ليمو کښې دروړم
زه بـــــــــــــه نورونه د رڼا په پيمانو کښې دروړم

ډير مـــــــــــې زړه کيږي چې پينځه واړه آذانه دروړم
دا ســــــــپينې شمعې د يو پاک آهنګ جامو کښې دروړم

د روح راحــــــــــل کښې به قرآن درته ډالۍ کړم ياره
د مـــــــــــــــــينې ټکي به تمام په کليمو کښې دروړم

د ليـــــــــــــــوني زړه د دعا شال به درولېږمه
او باقـــــــــــــي ځان به د ګلونو په وږمو کښې دروړم

د مــــــــمتاز خدايه!! څه نرے نرے باران را ښکے دے
غــــــــــواړم دوه اوښکې د موسم په رنګينو کښې دروړم

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نه ښــــــه خبر نه ښه خبره له وطنه راغله
زخمـــــي زخمي هره کوتره له وطنه راغله

ما په ګنـــډلو شونډو سخته زمزمه کړه کنه
ساندو کښې نغښتي وه سندره له وطنه راغله

یو د عـــربو د صحرا شګو ړوند کړے ومه
بل مـــــې پاګل سر ته ډبره له وطنه راغله

ما یوې هیلې پسې خپل وطن نه کوچ کړے وو
هـــــــــغه په ما پسې اوتره له وطنه راغله

لکـــــــــه کاغذ د چا په نوم لیکلے والوتمه
یوه ســــــــیلۍ وه زوره وره له وطنه راغله

ما مســـافر چې سترګې پټې کړې بیا اوشو کرم
څــــــوک نظاره شوه ،تر نظره له وطنه راغله

باچـــــــــا خاني او ماتم دواړه زنده باد ممتازه
خامتـــــــــا سره د تور څادره له وطنه راغله

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زه تور خـــــــــادر يم احتجاج يم بده ولې مني؟
زه تبـــــــــاه حال تباه مزاج يم بده ولې منې؟

ياره ! مفتـــــــــي يې فتوا ګر يې بده نه منمه
ياره! منـــــــــصوريمه حلاج يم بده ولې منې؟

باداره ! تا وييل خـــراج راوړه ،ما ځان راوړے
باداره! وا مې خله خـــــــــراج يم بده ولې منې؟

حکيم جي! ما هغه نښا کښې دے سکون موندلے
مـــــــــــداح د برجو مهاراج يم بده ولې منې؟

منم د رنـځ غوندې خپـــــل ځان ته لګيدلے يمه
خو د خپــــــل رنځ خپله علاج يم بده ولې منې؟

ته بـــــــــلاول يې ما منلے يې په سر او سترګو
چـــــــــې ستا تر ښنګ لکه کماج يم بده ولې منې؟

مـــمتازه!! ما ورته وييل چې ته بي شک رباب يې
اوس د رب کړه دي زه دې باج يم ،بده ولې منې؟؟

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چـــــــــغې په لالي پسې خوبونو کښې وهم
دا شـــــــپیلۍ باید چې جګو غرونو کښې وهم

ته خو څه سیګرټ او روپۍ نه یې له ما ورکه
تا پـــــــــــسې هم ګوټې په جیبونو کښې وهم

جـــــــار دې له نامې شمه حسین پکښې راځي
ځـــــــــــــان درپسې ټولو ماتمونو کښې وهم

خدا‌ے زما ګمان کښې په پوره معنا موجود د‌ے
زه بـــــــــــــنده لامبو په سرابونو کښې وهم

هـــــــــو! پورته کوم ګڼو غږونو کښې خپل غږ
هـــــــــو! خپل مخ په دې ګڼو مخونو کښې وهم

تا پســـــــــې په ښپو نه ځم څپلې نه غواړي میخ
ځـــــــــــم په لاسو میخ به لاسونو کښې وهم

ا‌ے عـــــــــــلامه! وه علامه! زه یم ستا په شان
نوم مـــــــــمتاز او لاس ډیرو کارونو کښې وهم

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

یو نـــــــــیم بدن جادو جادو کمال کمال وي خدایه
نه یــــــــــې ثاني وي په اسانه نه مثال وي خدایه

مونږ معاف کوه .مونږ ساده ګان یو ،بندګان هم یو
دا یو نیـــم کس په مونږه هسې ذولجلال وي خدایه

زه بـــــــــــه تر څو پورې د تندې انتها شرموم ؟
تر کـــــومه پورې به زما دغسې حال وي خدایه؟

زرګـــــر دې ټول عمر زرګر وي شکایت نه کوم
خو دا کـــــــــلال به تماي عمر کلال وي خدایه؟

ته قیـــــــــــــامت راوله بې شکه زه څواب نه لرم
خو که بنده دې یم نو زما په خوله به سوال وي خدایه

کاش هـــــــــغه څوک راشي او یا تر هغه چا ورشمه
چــــــــــې هو بهو زما په شانې په جنجال وي خدایه

مـــــــــــمتاز همدومره لحاظ غواړي له دښنه څینې
چـــــې په بې رحمه اذیت کښې خو مې سیال وي خدایه

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ډیر په ځان ظالم وم.په ځان ګران ومه چې وم
زه هـــــریو کردار د خپل داستان ومه چې وم

مــــــــــا لویدلي قبر کښې دفن کړئ مسلمانو
زه مـــــــالک د داسي یو مکان ومه ،چې وم

اوس خـــــــو خیر نه د چا په شان یم نه به شم
هو! یو وخت کښې زه د چا په شان ومه،چې وم

تا چې غـــــــــــاړه راکړه ما ته څو کالونه پس
بیا هـــــــــــــم درته هغسې جانان ومه،چې وم

تار وم ،په ربــــاب ،په سریندې که په ستار وم
ما ضـــــــــــربې خوړلې په لړزان ومه،چې وم

څو داني لونـــــګ کفن کښې هم راسره کیږدئ
ســـــــــــخت د لونګینو په ارمان ومه ،چې وم

ما ته خو مـــــــــــــمتازه هغه اوس هم آیینه وه
اوس هم ورته هغـــــسې حیران ومه ،چې وم

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زه اکثر چــــــــــا پسې خراب شم .بیا اکثر ښه شم
خو خیال مې نه کېږي چې دا ځل دومره زر ښه شم

وا مـــــــــــــــلا!! زه هغه لالي پسي تباه برباد یم
غرق شـــې پیریان نه دي چې زه به په منتر ښه شم

چــــــــــې مې د زلفو سره باد کړي لیونـے شم خدایه
چې مــــــــــي بندي کړي په حلقه کښې د نظر ښه شم

کاش مــــــــــسیحا!! زه هم څو وخته وینې ،وینې شمه
کاش مســــــــیحا!! بیا یـــــــکایک لکه پرهر ښه شم

چــــــــــــې توبه اوکړم له شرابو نو میین شم په چا
که دا مې حال وي خداے راستي که تر محشر ښه شم

مه څـــــــــــــه قسم دے د ماښام په شانې تور سوځمه
کښــــــــــــینه چي لږ لکه نیمګړے مازدیګر ښه شم

ممـــــــــــــــــتازه څم عبدالغفور سره تبلیغ ته ځمه
خو زه ډارېږم هـــــــــــــسې نه چې سراسر ښه شم

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چـــــــې بيــــــا لالي پسي خفه شم بيا نشې اوکړمه
کاش ماضـــــــــي راشي او زه بيا هغه نخرې اوکړمه

زه چرت وهم چي ما په ځان کومې کانې او نه کړې؟
زه چرت وهم چې اوس په ځان کومې کانې اوکړمه؟

زه مــــــــــــــــړې سندرې پسې دوه رکاته نفل کوم
رکوع کښې هاے هاے ،او سجدې کښې به ټپې اوکړمه

وعـــــــــده يې دا ده .چې جنت کښې به مزې کومه
خو شــرط يې دا دے چې تمام ژوند بې مزې اوکړمه

وطن مې ړنګ .ژوند مې تباه،هيلې مې خاورې ايرې
نورې د خـــــــــداے د کړنو څومره تماشې اوکړمه؟

يو تبليغي، يو مــلا جان ، يو هغه مست پير صــاحب
ايمـــــــــــــــانه!! وايه کنه چا سره لانجې اوکړمه؟

مـــــــــــمتازه تور ځادر له غاړې تاوومه ،ځمه
د باچـــــا خان بابا مزار کښې به څو شپې اوکړمه

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زه بــه اودهٔ شمـــــه خو سترګې به په ورهٔ کېږدمه
زه ښـــــه پوهېږم چې د څه خانه کښې څه کېږدمه

څه عجــــيبه مزل راپېښ دے ،په دې نه پوهېږم
زادِ ســـــفر کښې مازغه کېږدمه که زړه کېږدمه

ته د هـــــوا غـــوندې راځې او که هوا سره جې
په هر حــــــال زه به يو څراغ په ديواله کېږدمه

خــــــو د زړه حال دے ،پيرايه بې شک بدله سهې
په لاس دې خولهٔ کېږدم که لاس په خپله خولهٔ کېږدمه

زه د شـــــــپې خپله تنده واغوندمه .پرېوځم ياره
خو ســـــــتا تصوير سره رنړې يخې اوبه کېږدمه

لاليه!! مـــــــا له ښاره سر کښې ده سودا راوړې
لاليه! څنـــــــــــګه يې د ستا په زنګانهٔ کېږمه؟؟

ممــــــتازه کاش زما ارمان زما په ژوند پوره شي
چې دښـــــمن وايي وسله کېږده ،زه يې نه کېږدمه

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د ارتـــــــــــــداد دکاندارانو کړم مردود صنمې
راځه جمــــــــــعه ده نن جوړه وايو درود صنمې

د دي رټليـــــــــو فتـــوي کړو ،پروا ولې اوکړو؟
راغـــــــــــاړې وځه يادوو .رحيم .معبود صنمې

ما ته ليـــــــــدلې له نـــــزدې يې ګلا بڼې جينۍ
ما نا ديده ســترګو ته خار کړو خپل وجود صنمې

زمونږ پنډوکي کښې لونګو عسکر سم مدهوش کړو
هـــــــــــــغه عاجز لټول پنډو کښې بارود صنمې

زمــــــــــــــا دا خړ ځادر .او ستا دا زعفراني لوپټه
زمـــــــــــونږ تر مينځ د احترام دي دا حدود صنمې

ما ســــــــــــــــتا چشمانو ته بخښلي ،د کجلو لکۍ
اے!! رابـــــــخښې به اوس د بنګو يو نيم دود صنمې

په حــــــــــمد الله ارباب به رسم ستا انځور کړم ګوره
ممـــــــــتاز يم در به کړم رنګونو کښي نمود صنمې

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ښار ته، بازار ته ، خریدار تـــه به دي اورسوي
زخمه! تصویر یې کړې اخبار ته به دې اورسوي

مینې ته وایه، چې وحشت خـــو به دې جرم بولي
دعا ته وایه چې آزار تـــــه به دې اورســــــوي

خیاله! لفظونه که ګونګي دي خــــو کمال هم لري
تهٔ باوري اوسه اظـــــــــهار ته به دې اورسوي

ګمان حیران پریښوم،دشک په څلور لارې کښې زهٔ
یقیـــــــــــــنه تا وییل انکار ته به دې اورسوي

ممتازه نور له ســـــنګ پرستو بغاوت په کار دے
ګني د غرو به دې کــــړي غار ته به دې اورسوي

ممتاز(اورکزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

په ژوند کښ دغه مرحله څه وي خو وژنی سړے
د درزېدلي زړۀ مزه څه وي خو وژني ســــــړے

کۀ د اقرار کۀ د انکار وي خو بس دومـــره ده چې
د جانان هره فېصله څۀ وي خو وژني ســــــړے

د چا ګېدے ګېدے ديدن په سړي سر چورلـــــوي
د چا خالي خالي کوڅه څۀ وي خو وژني ســــړے

د يار په زړۀ په ناخبرئ کښي عمر نۀ تـــــېرېږي
د سړي خپله اندازه څۀ وي خو وژنــي ســــــــړے

زۀ ورته ياد يم زۀ تري هير يمـــــه راځــي نه راځي
دا ګډه وډه عقيده څۀ وي خـــــــو وژنــي ســــــړے

منصوره وخت چي يي معلوم وي نو بيا هم ښۀ وي خو
ده نامعلومه وخت وعده څۀ وی خو وژني ســــــــړے

محمد ګل (منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

لمبه مې د لوګي زړګي نه هـــــــــله پورته کېږي
پرده چې د رازونو نه مې کـــــــــله پورته کېږي

د میني په میــــدان کښـــــې الله دومره بریالی کړم
اوس سر که ښکته وړمه خــو په خپله پورته کېږي

چې یوړل تري خـزان هغه خوشـبو او ښکلا دواړه
په ډېــــــره بې وســـــــې بوره د ګــله پورته کېږي

د میــــــنې محبـت په باب چې نه پوهیـــــږي بیا نو
دا بعـــــــضی بعضی خـلک راته ځله پورته کېږي

هغه چې پــــکښې چا د یو مین ژوند فیصــــله کړو
نامه د جانان اوس هم د مقـــــــــتله پورته کـــېږي

محمد ګل (منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ده زړه خبره چې د خولې نه بې خيالۍ کښې اوځي
لکه چې ساه د ګناهـــــــنګاره په نرمۍ کښې اوځي

په هـــــــــــر واده کښي د ډولونو وهل نۀ دي پکار
دلته اکثر د کوره مــــــــــړي په ډولۍ کښې اوځي

ستـــــــــــا د ځوانۍ دا عادتونه درپه غاړه نه شي
ډيري خبــــــــــري د سړي نه په پيرۍ کښې اوځي

پۀ محبت کښې يو مقام وۀ چې تنها به خه بنـــــــۀ وم
اوس داسې وخت دی چې مې ساه په تنهايۍ کښې اوځي

هغه کۀ هر څو مړکيده له درده چــــــــــوپ پاتي وۀ
اوس به يې څـــنګه جنازه په خـــاموشۍ کښې اوځي

منصــــــــــــوره ما ورته وراوکـــــتل زۀ څۀ خبر وم
چې پس له دې نه به مې ژوند په ملنګۍ کښې اوځي
محمد ګل (منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ته چې په کـــې وې د ســــــپرلو او د اختر کلی و
ځومره ســـپېره شو ، زمونږ ځومره بختور کلی و

چا راته وویل چـــې اوس کلــــــــی ډېر نه یادوې
ما ویل کلی خــــــــــــو اشنا! د چا په سر کلی و

نه خو يې زه ســینه کې ځای کړم ، نه دلبر يې راله
نه جـــــــــــوړ زما کلــــی وو نه مې د دلبر کلی و

سورناچیان" لاړل چې پټیو کې یو یو تن یې ولید"
هم يې ژړل ويل يـــې دا خو د اشر کلــــــــــــی و

چې جانان تلو نو چا ســـتا مینه ور په زړه نه کړله
"منصــــــوره" ښه د زړه د درد نه دې خبر کلی و

محمد ګل (منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

که په زمــکه وي خو ستـــــورى د اسمان شي
په جانان چي سوک مـــين شي نو جانان شي

په سپرلي کښــــې وطن ستا په رنګي ښکاري
په خزان کښـــــې خو ښيخي زما په شان شي

دنيا ښکلې دي دنيا يـــــــــــــي ښائستونه
خو يو ته يي چي سړى درته حـــــيران شي

مرګ يې څه د ارمانونــــــــو وي خدايه
د چا ټول ژوند چــــــې ايله د يو ارمان شي

ستا د خوانه چي سوک ځې نو داسې لاړ شې
چې تمام عمر په فـــــــــکر کښې روان شې

زه د خيــــــــــــل غمه په دي خاطر ويرېږم
که په ځان شومه نو ستا غم به په ځان شي

د جــــانان نظر يې هلــه په نصــــيب شي
چې د دار په ســــــــر منصوره اوېزان شي

محمدګل(منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ارماني کور کې اوســــــیږي ارماني کور ته راځي
ځیـــــــني خلک بې تپوسه د زړګي کور ته راځي

دروازه یې راته لر کړه ویل یې مور درته غوسه ده
په دې نـــــــیمو نیمو شپو خو لیوني کور ته راځي

ستا د حسن به څه وایم که کوه قاف ته چرته لاړې
دا مې واوره درســـــــره به ښاپیري کور ته راځي

خپـــل بچي به ورته داسې د پردي په شـــانتې ګوري
څوک چې مونږ غوندې ملګرو عارضي کور ته راځي

چې د مینــــــې ناکامي یې د خـــپل کلی نه بهر کړي
هغه خلــک څه ژوندي وي بس ژوندي کور ته راځي

څنګه زړه نه به مې وځـــي هغه پېــــغله چې ویل یې
زه دې مړه شم که هغه مې په مرګي کـــور ته راځي

ستا"منصور"کلي کې نشته ستا"منصور"چې چرته راشي
د خپل کور د تلو نه مخکې پخوانـــــي کور ته راځي

محمد ګل (منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

دا ســـتا په دي نــرۍ نرۍ خندا که غزل جـــــــوړ شي

دا ســـتا په خيال به څــنګه وي په تاکۀ غزل جوړ شي

وﷲ چي عــــــــــقيدي به ورته ټولي په سجـــــــــــده شي

زمــــــــــــونږه د مـــــــــــــينو په دعا که غزل جوړ شي

پکار خو ده چــــي غرونه ورته هم په خوځـــــيدو شـــي

د دوو مــــئينو زړونو په درزاکۀ غــــــــــزل جوړ شي

د زړه ســــــــــــترګي به اوښکي ورته توي کړي د مـينو

زما د محبت په انتهـــــــــــــــا که غـــــــزل جوړ شي

چي دومره سوک مايوسه شي چي مرګ ته غاړي وځي

منـــصوره داسي خـال کښي په وﷲ که غزل جـوړ شي

محمدګل(منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ډېره موده وشـوه چې يم ، په داســې کور کې ویده
په خامـوشيو کې راويـښ شــمه ، په شور کې ویده

په خــېټه وږی يم ، خو ســترګې مې مړې دي خدايه!
زما غربـت کراري پروت دی ، په تـش شکور کې ویده

نه پـــــــرې باران اوري ، او نه د غوښو بوی ختم شو
د یویشــــــــــتمې صدۍ خلـک دي ، په اور کې ویده

دده په وړاندې په یــــــــوه کمـــره کې څه ونه شو؟
اوس هم لا پروت دی ، یو سړی په یو انځور کې ویده

باقره! بيا مـې دی د ذهن په حمـــــــــــل کې یو خيال
لکه د دوو مياشـتو ماشوم چــې وي په مور کې ویده
باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هېڅا ونــــه لیدې زمـــــــــا د ژوندانه تنهاکې
په ډیرو چیـــغو مې را وختې په خوله تنهاکې

د وخت غـربت، د ژوند لټون، او انتـها د مینې
د چا لاســونه، د چا پښــې، او د چا زړه تنهاکې

اوس به مــې تـنده ماته کړی وی پرې ترړی یمه
د خدای نه ځار شـمه اوس نه کوي اوبه تنهاکې

چا تـــــــــکولو ټوله شپه زه ویده شوی ومه؟
ســحر وختي مې ولیدې، د کور په وره تنهاکې

باقــره! ما په داسـې ښـار کې زندګي تیره کړه
چې نه ســـــــــندرې خلك پیژني، او نه تنهاکې

بــــــاقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چې ګرځېدمه ، په خپل سیوري پسې لمر ته راغلم
د یو سړي پســـــــــې د کومې دنیا سر ته راغلم ؟

د ستا په ستـــرګو کې مـــــې ځای د محبـــت لیدلو
چې ترې لویــــدلی ومه ، بیا هغـــــه کمر ته راغلم

بلها موده پـــــس مې د خپل کور الماری خلاصه کړه
چې خپل غربت راته رایاد شو ، خپل ځادر ته راغلم

تـــــنهاکــې پښې پــــکې وهـــــمه ، او ګیلې کومه
زړه مې راتنګ شو ، ناګهانه سمـــــندر ته راغلـــــم

د نامــــــــــعلـوم منـزل سفـر هم نزاکـت نه لري
خدای خــبر چرته تلم؟ روان ومه ، او چرته راغلم ؟

ستا د راتـــــــلو زیری چې وشـــــولو په ما باقره!
په اوړو ککړ لاسونه ، ژر ژر د کور ور ته راغـــــلم
باقـــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

حېران يم ګوري په کوم خوا، اسمان ته هم نه ګوري
خلـک د لور سره رېـــــبي ګوتې، غنـــــــم نه ګوري

د ســـــــــــر د پاسه مې سودا ټولې دنيا ته ښکاري
د ســـــــر دننه مې ســــــــــودا يو بنيادم نه ګوري

زهر به پاشــــــي په يــــــوه يوه کې صـــبر وکړه
څـــــــوک چې د کور په دېوالونو کې لړم نه ګوري

په ســــــــــــياهۍ لړلي جېب ته مې دوبي خفه دی
خو چې په جېب کې مې ساه ورکړله قلم نه ګوري

د خپــــــــل منزل په لور روان دی فاصلې طی کوي
باقر د ځــــــــــــمکې په سيـنه باندې قدم نه ګوري
باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د ژوند قاتل د جس په بیه زندګــــــي خرڅـــــــوي
زما پـــــه خـــــــاوره د بل شوي اور لوګي خرڅوي

قــسم په خـــــــدای چې کلیمه به ورته هم نه ورځی
څوک چې په مونږ باندې دا شته ، مسلماني خرڅوي

د قســــــــمتونو ویش دی ، څوک به پکې څه ووایي
د چا چــــــې شور نه خوښیده ، هغه بنګړي خرڅوي

ستا تصـــــویرونه هـــم پرې نه پرېږدي بلا سړی دی
په دېـــوالونو بانـــــدې خپله تنهــــائي خرڅـــــوي

له خــــوفه ډک ذهنـــــونه ساتي ، معطر وربـــاندې
باقر لګیا دی ، د لفــــــــظونو خوشـبوئي خرڅوي

باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ستـــا د محـــــــــبت کړې وړې لارې خو ګرانې دي
اوښـکې مې له ستـــرګو نه هجرت کوي روانې دي

ستوري دي، وعدې او که صحنې ورباندې شمارمه ؟
ماته خپلې ګوتې د لاســــــــــــونو اوس حيرانې دي

ته راتــــــه انکار کوې، او سترګو نه دې اوښکې ځي
شونډې دې کافــــــرې دي، او ستــرګې مسلمانې دي

زويه! خپل راتلونکي ژوند ته هم ډېر سنجـيده اوسه
ستا د غبـــارې نه د پښـــــــتون وينې ارزانې دي

څو ځلــې مې وڅـــــــښله پياله د زهرو مړ نه شوم
چا راته باقــــــــــره! کړې داســــــې دعاګانې دي ؟

باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ځان پټومـــــــــــه، له دنيـا، له تانه څه پرده ده
راکړه. په ســــترګو کې پناه، له تانه څه پرده ده

چې خپل بربنډ وجــود، د خاورو په څادر پټوم
په تا کې ګرځــــــمه صحرا، له تانه څه پرده ده

ستا د نظــــــر د ګړنګونــــــــــو نه لوېدلـی يمه
زلـفې راښــــــکته کړه اشنا، له تانه څه پرده ده

يوه پرده مـــــــــې وه، د کور د دروازې مخې ته
هغه دې هـــــم يوړه هوا، له تانــــــه څه پرده ده

ځان به ضايع کړمه ، چې خيال د مزاجونو ساتم
خلك خـــفه نه شــــي له ما، له تانه څه پرده ده

لکه کالـبوت ګرځـــــم راګرځـــــم درپسې باقـره!
ما سـره نشـــــــته زما ساه، له تانه څه پرده ده

باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زما کـــفن نه يې ، د خپل وطن جهنډه جوړه کړه
زمـا قـاتل مـــــــاته له ځـان نه فرښـته جوړه کړه

د مقـدسې مينـــــــې حد دی ، خـدای به تا راکوي
ستـا د څـــــادر نه مې لمانځه ته مصـله جـوړه کړه

هـر څه قـــيمته وو ، خو سر د پښتون ډېر ارزان و
مـا چې ددې ښار په بازار کې ، نرخ نامه جوړه کړه

ما ورته ونه د کور ورکړه ، چې انغری پرې تود کړي
هغه ظالـــــــــم ترينه خبر شوم ، پنـــجره جوړه کړه

ستــــــا په جائيـــداد ورونه ، نښتي د يــــو بله سره
ســـــــتا د امسا نه ستا بچو پلاره لينده جــــوړه کړه

چې د کـوټــــــــــه نه بهر وځـم ، اجازه تـــرې اخلم
د تنهائی ســـــــــره مې دا رنګه رشـــــته جوړه کړه

دوه رنګـــي خلک به اوس ويني پکـې خپله څهره باقره!
مــــا د خپـــــل غزل نه ائينه جـــــوړه کــــــــړه

باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

په دعـــــاګانـــو پســـې تللی و، ازار یــــې راووړ
لپې یې اوســــــوې په لاسونو کې انګار یې راووړ

د چـــــا لپاره یې دسمـــال په بېوســــــۍ جوړوه
چې د ډوډۍ ټوکړې یې خرڅې کړې، او تار یې راووړ

بـــې له دښـــمنه هم ژوند ګران دی، تجربه یې وکړه
یوه ســړي د کور دېــــوال سوری کړ، مار یې راووړ

مـا ورته ویل ستاسو په وخت کې شکر امن شته دی
زمـا وړوکي بچـــــــــي منډه کړه، اخبار یې راووړ

نـه د چـــا زړه، نه د چا سترګې څوک په بیعه اخلي
باقر خــــو راغی مګر نـرخ د کوم، بازار یې راووړ؟
باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

په خپل احساس بـاندې مې خوري لکه لړم خبرې
زما په مخکې دې څوک نه کوي د غـــــم خبرې

په کاغــذونو رســــــمومه درته خپلې شـــوندې
زمـــا پر ځای کـــوي ، زما د لاس قلـــــم خبرې

پریـــږده چې واچوي لاســـونه د هوا ګـــریــوان ته
د څـــراغونو په حضور کوه ، تورتم خــــــبرې

د وصـــال شپه ده ، دې کې درد د هـــجر مه یادوه
څوک په جنـت کې نه کوي د جهــــــنم خبرې

ماته غـــوږونو کې اخر خاموشـــۍ ځالې وکړې
وشـــوه مودا چې اورم نه د بنیــــــادم خبرې

زه باشـــینده د سحرابي ځمکې یم څه وکړمه؟
باقره! زه خـــو به کوم د ســــــترګو نم خبرې

باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ځوک به راټولې کړي ، د دغه تعبيرونو شيــشې
زما په سترګو کې شوې ماتې د خوبونو شيشې

مونږه! لا نه دی پېژندلی د لفظـــــونو قـــــدر
په اخبارونو پاکوو د دکانونو شـــــــــــيشې

که په دې ښار کې چــــا په يو بل اعتماد کولـــی
ايښې به نه وی چا د کور په دېوالونو شيــشې

اخـــــــر دي ولېـــــــدل زمـــــــا د اوازونو کاڼې
اخر مې ماتې کړې کنه ســتا د غوږونو شيشې؟

ګردونه هم ترينه ويـــــــريږي، نه کيني ورباندې
دومره بدرنګې شوې د خلــکو د مخونو شيشې

د خپل منزل مخ چرته وګورم هيڅ چل نه راځي
زما نه ورکې دي باقـــــــــــره! د خاپونو شيشې

باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ویرېږم ګني پوه یـــــــــــم په هر څه، پروردګاره
حالاتو راته لاس ایـــښی په خـــــوله، پروردګاره

له مانه يې ته ولـــــــې پـــــټ ساتلی يې تراوسه؟
رانیــــــسمه اسمـــــــان له ګریوانـــــه، پروردګاره

چـــــتریٔ مې په ســــــــــــر ونیوه، د مینې انتها وه
یو څــــــــوک مې په زړه ډېر را ورېده، پروردګاره

په دوه اربه خلـــــــــــکو کې د سوچ خبره نه ده**!؟**
یواځــــــې وژل کېږي پښــــــتانه، پروردګـــــاره

منم چې سترګې نه لرم، په سترګو باندې ړوند یم
خو سترګې رســـــــــــمولی شمه زه، پروردګاره

لاســونه ورته لپـــــــه کړل باقر په دعاګـــــــانو
جنـــــګ بس کړئ چا لیکل په دېواله ، پروردګاره

باقـــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

د ژوند د تېـــــــريدو ضرورتـــونه ، څومره ډېر دي
لاســــــــونه زما دوه دي ، او کارونه څـومره ډېر دي

په ډېرو دليـــــلونو ورکولـو ، شومـــــــــــه ستړی
د خلکو په ذهــــــنونو کې سوالونه ، څومره ډېر دي

د عشق په بصــــــيرت دي؟ که د خپل وطن په حال؟
په دې ښار کې د زړونو تکلـــــيفونه ، څومره ډېر دي

زما او ســـــــــــتا يوه نخـــــښه د يو بل سره نشته
زما او ستا په کور کې صـــــــندوقونه ، څومره ډېر دي

راستون نه شوم ، زه هم لکه د وخت سکانی ورور يم
په ځان پــــــــــسې مې کړي اوازونه ، څومره ډېر دي

هر چا د خـاموشـــــــــــــی جامې اغوستي دي باقره!
خبرې څومــره کمې دي ، غوږونه څومـــــــره ډېر دي

باقـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

خلک ورک شوي ، تصـــويرونه خلکو ولګول
په رڼا ورځـــــې څراغـــونه ، خلکو ولګول

په ما او تا به څنـــګه نه لګي ، فتوې د کفر؟
په فرښـــــــتو هم الزامونه ، خلکو ولګول

د قبـلولو نه خـــــبر نه يم ، خو دومره وايم
چې د ســجدو په نوم ســرونه ، خلکو ولګول

مرغان خــــــفه دي ، تر ځنګله آبادي رانشي
په هديرو کـــــــې ديــــوالونه خلکو ولګول

د چا وړومبي ديدار ته دومره وو لېواله خلک
چې د يو بل ســـره لاســـــونه ، خلکو ولګول

د چا په خيال خاطر کې هم باقره! چرته نه و
په داسې ځای کې قدمـــــونه ، خلکو ولګول
باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بس دی دنیا مې ډېـــــرې وکړې تمـــــــــاشې د سترګو
بربنډ نـــــظر ته مـــــې ورواغوستـــــې جامې د سترګو

د شوګیـــــــرو وېنه یې خـــــوري ، خوبه راځې او کنه؟
خلاصــــــــې مې پــــریښي ستا لپاره دروازې د سترګو

وره په وره اووســـــــــــې راســــره بیا دې هم نه وینمه
ای د کـــــــټ ســـــر ته رانه ورکې دې چشمې د سترګو

د هر ســـړي په اوږه لاس کیــــږدم ، چې ته یې جوړې
ژبۍ مــــــې ولوېده مــــــــــنې په تا پســــــې د سترګو

په دې ویـــــــریږم د بڼو ځنـــــــګل پرې اور وانخـــــلي
د اوښکـــــو تیلو باندې بلــــــــې کړم ډېـوې د سترګو ؟

لوند شوی خط مې لمر ته ایښی دی ، چې وچ یې کړمه
صــــبر مې نه کـــــېږي باقــــــره تر هغــــــې د سترګو

باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

غمونه راغلو بیابه ځانتـــــه نوی ویر جـــــــوړوم
داسمان ستورو ته لګیایم ســـــــــتا تصویرجوړوم

دهرچا خپله فیصله دځان منزل به تـــــــــــــاکي
زه به خپل ځان دستا په زلفو کي اسیر جـــــــوړوم

خوب مي لیدلی په لمن کي ملغلري وړمـــــــــــــه
ځان ته لګیا یمه په خپله یي تعبیر جـــــــــــوړوم

په شنه اسمان کي رانه ستوري راته ګونګ پاته دي
ورته خپـــــــــــل حال بیانوم ځان مقریر جو ړ وم

په دې نیمګړي دونــــــیاګۍ کي ژوندون داسي کوم
چاته مرید ځان جوړوم چـــــــــاته یې پیر جوړوم

دبنو درګي له رنجو سره بهرام تـــــــــه ورکـــــړه
د زړه په دړه دخوږې میني تحریر جـــــــــــوړوم

اروابناد محیب الله بهرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

اختـــــــره چې راځې لاچي لونګ درســـــــــره راوړه
د يار غاړي ته هار دبنګړو شرنګ درســـــــره راوړه

ډيرلري مســــــــــافر يم نـــــه يې ويـــــــنم نه ميويني
راځې خو د څلورو ســـترګو جـــــــــنګ درسره راوړه

د ستا په انتظار وو موږ دا ډيـــــره مــــــوده مــــــــخکي
هجران درټولوه د وصــــال بنګ درســـــــــــــره راوړه

داتيرغم خوبه هيرکړم خو اوس سوال کړم او زاري کړم
نور غم راته رانه وړې مست اهنګ درســـــــره راوړه

بــــــــــــــهرام دا ستا په تمه تمه سپين لاسونه ګرځم
راځه لاس دي په ســــــــرونکريزو رنګ درسره راوړه

اروابناد محيب الله بهرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

د مینـــــــــــــي په دنیا کې سمندره پورې لاړم
دیدن پسې دي ګـــــرانه سمه او غره پورې لاړم

یو سوال مې د جانان د وصال چیري قبول نه شو
د هر زیارت د هر مـــــلنګ تر دره پوري لاړم

پښتون چېرته غلام نه شـــو او نه یې کړه قبوله
له پوري اباسینه تر خـــــــــیبره پوري لاړم

یو شور مې دبنګړیو تـــــــر غوږشوی دلېلاوو
زیږی مازدیګری وو تر ګودره پـــــوري لاړم

ژوندون مي لري غوره کړ بهرامه له دې خلکو
د ښکلي [سروضې]تر هسک قمره پوري لاړم
اروابناد محیب الله (بهرام)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

لکه په گل باندي شبنم په زړه مي ووريـــــږي
خوږه جانانه دا ستا غم په زړه مي ووريــــږي

ستا د دروغو په وعدو مـــــــــــي اعتبار کړی وو
هغه وعدې هغه ســـــــــتم په زړه مـــي ووريږي

هغه وروستۍ شپه دي لا اوس هــــم يادوم شيرينه
ما به ويل کينه تا ويل ځــــــم په زړه مي ووريـږي

د يار په چــــــــــــــم کې د خندا شيبه ما ونه ليده
اوښکي وروړم اوښکي راوړم په زړه مي ووريږي

بهرام له ځان سره وړې وړې سلګۍ وکـــــــړمــــــه
د اوښکو کډي بــــــــاروم په زړه مــــــي ووريږي

اروښاد محيب الله بهرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ماپه تاپســــــــي ژړل تمامه شپه
ستاتصويرته مي کـــتل تمامه شپه

مين زړه مي په سلګو ووګرانه ياره
چي يادونه دي راتلل تمامــــه شپه

ستادمړوسترګوتصويرمي پنـــځولو
چي لګياوم په غزل تمامه شـــپه

بس زماپه ګوتونه راتلې جانانــــه
نورولاړوې مکمل تمامه شپــــه

بهرام چيري ستاخالونه دي شمېرلي
وولګيادي په اوربل تمامه شپــــه
ارواښاد محيب الله بهرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ستا له غمه مي زړه شوري کله کلــــــــــه
ستا غمونه پرى را اوري کله کلـــــــــه

ورته ناست په انتظار يم ورته ګـــــــــورم
پاس په بام باندي راګوري کله کلـــــــــه

د ماشوم پشان په نيمو شپو يې شــــــــمارم
ستا غمونه لک ستوري کله کلـــــــــــه

زورور وحشيان را درومي دې کوڅو تـــه
را نه يوسي څو کمزوري کله کـــــــــله

له ژړا مي زړه را ډک شي سوچ مي يوسي
د شهيد وطن پـــــــــــــه لوري کله کله

د غمو پنډ مي په سر دى پـــــسي ګـرځم
په کوڅو کي دوري دوري کـــــــله کله

بهرام تل په دروازه کــــــــي بدوا وکړي
دلته راشي له کوم لوري کــــــــله کله

اروابناد محيب الله بهرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چې ته راشې خپل وطن ته مابه غـواړي
زه به نه یم تور لحد ته به مـــــــي ژاړي
په زړګي دي وویشتم پورته دي نـــــکړم
اې،بې رحمه یاره لاړې پـــــــسي لاړي
د غم کاڼي مي په ســـــــر باندي وریږي
د زړګي خوني مې تـولې شوې ویجاړي
زه چې مړ شـــــمه اشنا یاد کې یې ساته
یم شهید خون بــه مې وي د ستا له غاړي
زه دي هـــــــیر کړم تا به هلته هیرومه
چې بهرام غریب په سپین کفن کې نغاړي

اروابناد محیب الله بهرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې مي ويل بيا به يې نه وينم ما بيـــــــــا وليدو
د رقيب غيره کي جانان مي پـــــــــه خندا وليدو

کومه جفا باندي مي نه پريـــــــــږدي ښيراوي کوي
ملنګ مي بيا پوري زيارت کي په بدوا وليـــــــــدو

کله خندا کله ژړا کله سلـګۍ کـــــــومـــــــــــــه
دا چي حالات په دې نيـــــــــــمګړي دنيا ما وليدو

د پاکې مـــــــــــيني شهادت دي مبارک وي ورتــه
منصور مـــي پاس د دار په تخت کي په خندا وليدو

ما ويل جـــنت له خدايه غواړي د جانان به سوال ؤ
بهـــــــرام مي خوب کي په مکه کي په دوعا وليدو

ارواښاد محيب الله بهرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

له مودو وروسته مې څوك داسې حافظه كې اوسي
لكه تصوير د جـــــيب په مــــاته آئينه كې اوسي

د پيكه ژونـد, په ترخو شــــوندو چې كړم ژبه تېره
څوک لکـه شات د ګل داوښــکو په شيره كې اوسي

ســترګې په پـام رپوه , پام كوه چې مات يې نكړې
د درد تصـــوير دې لا د اوښـكو په ښيښه كې اوسي

يوه خور هر ســـهر خـپل ورور پسي يسين ختموي
يوه مـــــــور تـوله ورځ په پورې هدېره كـې اوسي

هغه د ښـــــــار د دنګو,دنګو مـحـــــلونو ياران
اوس د كوچي د زړه په دښـته كې خېمه كې اوسي

سپين كوچى

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

نیم غمـــونه دې ستانه شي، زړه مې ښه شي
چې وعده دې را په زړه شي،زړه مې ښه شي

چې دردونه دې، په څړیـکو شي، را ویښ شم
چې له درده تول ویده شــي، زړه مې ښه شي

په دې هیله هم له ځان ســــــــره مُسکی شم
چې حالات به یو څه ښه شي،زړه مې ښه شي

چې هـغه وایي چې ځـــــــمه،زړه مې پریوځي
چې هغه بیا زړه نا زړه شــــي،زړه مې ښه شي

چې عــادي راته را ګورې، زړه مــــــې مات شي
چـــې کاته دې لږ خواږه شي، زړه مې ښه شي

د چـا هـــــجر په زړه دومره یـــــــم خوړلـی
چـې پردي هم په کالـــه شي،زړه مې ښه شي

یو کوچـــي پســــــې مې زړه ورک وي تر هغې
رابنـــــکاره چې له راغه شي، زړه مې ښه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ټولېږي چې له ځمکې نه کراره ښائيســــــــتونه
له کليو نه،له غرونو نه،له ښاره ښائـيســــــــتونه

خواره به ځانګې وانګې شي په ډېرو خزان زړونو
که پاتې شي تر تا پورې بهاره ښائيـــــــــستونه
خپل حُسن ورته غم دی لکه ستا د ګلو ځـــــانــګې
په ملا مات دي د غم له درانه باره ښائيـــــستونه
ســـاتلي دلته ډېرو له حـــــــــالاتو دي حجاب کې
ساتــلي دلتــــــه ډېرو دي له ډاره ښائيســــــتونه
په مينـه تېـــــــروو يې په زړه ځړيکه،ځړيـکه درد
په زړه کې ساتو ستــــا په څېر پرهاره ښائيسـتونه
سپېزلي يې نازک مخــــــــــونه ټکــــــنده غرمو ۍ
سپېـــــــرو ګردو وهلـــــــي ۍ غباره ښائيســـتونه
را پرېـــــــــــــوتل په زړه اره،اره اندام،اندام شول
دا ستا قد او قامت په څـــــــېر چناره ښائيســـتونه

هر وختې پسې زړه خورمه،هر وخت پسې ځورېږم
يادېږي مې کوچــــــــــــيه ســـپينه ياره ښائيستونه

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چې خواږه یې را کاتهٔ رانه اوس هېر دی
هغه څهٔ نومــــیده، څهٔ رانه اوس هېر دی

هـــــــغه زه چې جل وهلی پسې ورک وم
هغه ژوند لــــــــکه اوبهٔ رانه اوس هېر دی
ما ډبـــــره ســـــــــــرته کېښوده ویده شوم
خوب د مــور په زنګانهٔ رانه اوس هېر دی
ستـــــــا نامــه وربانديې لیک ده، دا یې نښه
رانه ورک شو چېرته زړهٔ رانه اوس هېر دی

ستـا رمه،رمــــــــه یادو سره کوچـــــــــــیه
ښـار کې ورک یمــه،راغهٔ رانه اوس هېر دی
سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

اوس په غمونو او دردونو کـــې پاخه دي زړونه
دومره غمو سره چې نه چوي کنه،ښه دي زړونه

هغسې ناز دې اوس پر مونږه باندې ښکلي نکړي
هغسې اوس د محـــبت کیسه کې نه دي زړونه

څـــوک به یې قدر خامـــــــخا لکه زرګر پیژني
اوبــو راوړي په غمـــــــیو کې له غره دي زړونه

مونږه په نوې یــارانه، په زړه کې تیــــګه ایښې
چې مــو زړې یارۍ خـــــوړلي بیلتانه دي زړونه

کوچی چې لاس په سینه ږدي د درد خبرې سره
بیا یې بیل شــوي خامخا د زړه له زړه دي زړونه

چې په وړه خبر د چا سترګو کې اوښکې راشي
کوچیه پوی شــه چې ددې خلکو اوبه دي زړونه
سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پلونه دې ړنګ شول،اوس يې ځان سره ساتمه خاورې

ستا په نـوم ګل کـرم،تـرې لانــــــدې خـوروِمه خاورې

بلا موده کيـــږي،ســــــتا نوم په ګوته ليکــــمه پـرې

بلا مــوده کيږي، بيـــــا بيرتــــــه ورانومه خـاورې

زه چـــــې د چـا لـه شهـادت خبـر شــم، شکر باسم

زه هـغه نه يمـــــــه، په ســر چې بادومـــــه خاورې

تــــه جوړوه په ارمـانــــــــونــو- مې کـوچني قبــرونه

لکـه مــــــاشـــــوم زه به لمنه کې راوړمــــه خـــاوري

بيـا به کوچــــنيان نه شو، چې تـه راته کلا جوړوې ؟

!زه کاغذي موټـــــــــــر کې، بيا درچلــومــه خاورې؟

خاورې به ګل شي د راتلونـــکي ژوند مې،ځواني هيلې

!چې د ســــــرک کندو کې ټولـه ورځ شيندمه خـاورې

تـه بـه ترڅـــــــو پورې مـزلـونـه پـه غبار کې کوې ؟

زه به تر څو، ســـتا له سپين مـخ نه، پاکومه خاورې؟

هومــــــــره دې مينـه د يـــارانــو زړه تـه لارې کوي

څــومره چې ســتا پـه نـوم کـوچيه اړومه خاورې!!!

سپين کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ډنډ؛ سترګو ته مې بيا شوې څنګه ځير بلا دې واخلم
چې ګورې پکـــې بيا د چـــــا تصوير بلا دې واخلم

زمــا ياران به خامـــــخا لري دا دوه صـــــــــفته
پـه ســـترګو کې خنـدا، زړګي کې وير بلا دې واخلم

ته وايه کـنه ســـــل ځلې چې هيڅ خبـــــره نشته
پر مـخ دې شـــــــته د غـــم بلا تاثير بلا دې واخلم

پام ونــکړې ګيــــــــــله د سترې ژوند له سترې عُمر
اشـنا دا فيـــصلې دي د تقـــدير بـــــلا دې واخـلم

ته مــه رپوه صبـــر شه چې ســـــترګو کې دې لولم
کړې، وړې ســرې کرښـــې د شــــوګير بلا دې واخلم

په ژوند کې و هــــــــماغه دور خـوړ د کوچـنيوالي
چې ته به شـــــوې پـاچا زه دې وزير بلا دې واخلـم

شي خوبښ به دې کنه، بس يو ساده شان مسلمان دی
کوچی نه مريدان لري نه پـــــــــير بلا دې واخلم

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چې شپه به شوه، یواځـــــې به پر لاره چیرته نه تلم
چې ورځ به شوه،د خپل سیوري له ډاره چیرته نه تلم

چې شپه به شوه، د زړه د پرهرو څړیکو به ویښ کړم
چې ورځ به شوه، د چـــــــا له انتظــاره چیرته نه تلم
د ورځې به مې لمر ته خـــــورول د زړه زخمــــــونه
د شپې به د رڼو ستورو له شمــــــاره چیرته نه تـــــلم
سهار به مې اوږې تر جنازو لاندې کـــــږې شــــوې
ماښام به د چورلکو له بـــــمباره چـــیرته نــــــــه تلم
نور غلی د نړۍ له شوره لــرې چـــیرتــــه ورک وی
څه وخت و ، د مستۍ او شور له ښــــاره چیرته نه تلم
اوس اخلم هر قدم د زړه په زور لـــکـــــه رنــــځــور
ماشوم چې وم، په منډه وم، کراره چــیـرته نه تـــلم
دمه د خپل قامت سیوري ته سرو غرمـو کې نه شــوم
یو وخت به دې شین سیوري نه، چیناره چیرته نه تلم

!! خوارہ،خوارہ همزولي رب راکړي وه، څه وخت و
یواځې به کوچیه سپینه یاره چیرته نــــــــــــــه تلم

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

هر چا، چې به مې ســــترګو ته کاتۀ په بېلتانـــــــه کې
پر ما به یې زړګی ســم ســــــوځیدۀ په بېلتانـــــــه کې

د چا له هغه سخت زړه نه، خـــبر یې او که نه یـــــــې؟
اخر شو هم ، هغـــــه کاڼی اوبۀ په بېلـــــــتانــــه کې

ستا بد به مې حـساب هم د ژوند ښکـــــــلې خاطره کړه
کتار چې به مې مـــخ ته کړل ستــــــا ښۀ په بېلتانه کې

پر نوک به یې د زړه دروازه، غلــــــــې را ټک،ټک کړه
یادونه به دې نـــــــــــیمه شپـــــه راتلۀ په بېلتانه کې

ویل مې؛ دا به چـــېرته د غـــــم دومره بار اوچت کـړي
باور مې دومـــــــره نه ؤ په خپـــــل زړۀ په بېلتانه کـې

پام! مه وچوه سترګې، د خوږ درد پکې یو کـــــیف دی
په اوښکو لامده ښــــــه ښکاري لېمۀ په بېلتـــــــانه کې

اشنایه! زه د دومره سخـــــــتو نه یمه چې څومـــــــــره
کوچیه ځوانیمرګه لکـــــــه تۀ په بېلـــــــــــــتانه کې

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

راته ښـاغلي،راته ګــــــــــران،راته درانهٔ دي یاران
لکه شــــــــــــکره،ل-که شات راته خوږهٔ دي یاران

ښکاره یو بل ته په خـــــــــندا ورغاړه ووځي خو نور
لکه زمـــا په څېر غــــــــــمونو کې پاخهٔ دي یاران

زه خو غـــــــــربت سره یـــارئ باندې منلی وم دوی
چــې یارانې ته مې اوس ولې زړهٔ نا زړهٔ دي یاران؟

په خوشـــــالئ کې یې څوک قـــدر بانــدې نه پوهیږي
خو اشنـــــــــــا ومـنه چې بده ورځ کې ښـــهٔ دي یاران

پخپـله ګرم نه دي،حالاتو دي شیـــــــــــــــندلي سره
مانیـــــــجن کړي لـه یو بــــــــــله، بیلتانهٔ دي یاران

څوک چې ضمیر لري؛ حالات یې د زړهٔ وینې زبیښي
څوک چې احساس لري؛ ټول سر په زنګانهٔ دی یاران

سپینه کوچیه ! دا خو شــــــــته ،منځ کې خبرې راځي
سپینه کوچیه! لکه غــــــــــــــــــړي، د کالهٔ دي یاران

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ستـــــا په خندا کې څو اخستیو تصویرونـــو پرون
بیا ژړولی یمـــــــــــه خدایګو ستا یادونو پرون

د مخه ښې ځـــــای ته دې راشمه، رامنده کړې ته
راته را غاړه ویســــــــتې بیا سترو خیالونو پرون

ستا انتظـــــــــار څوک ارمانجنه شوه د بل ناوکۍ
چا ورته کینـــــــــــودې نکریزي په لاسونو پرون

څــــــــنګه یې نن له یاده وباسم او هېر یې کړمه
ســــــــتا د تنکــــــــیو ځوانیمرګو ارمانونو پرون

بـــیا بدرګه نه کـــــــــړمه چا تر نیمې لارې پورې
شـــومه را ســــــــتون پر ځنګېدلو قدمونو پرون

نه مې ته څنګ کې وې او نه راسره سیورۍ ؤ خپل
وخوړم، وخــــــــوړم یواځې ماښامــــــونو پرون

چا زمزمه کړل،زه یـــــــــې هم په ژړا واخیستمه
سپینه کوچیه ســـــــتا د غم او درد؛ شعرونو پرون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ســـــــــتا غم سره،پوره لا نه دی،کال د یارانې
ویلی چـــــاته نه شـــم،څـکه حــــــال د یارانې

زه دومـره د خـپل درد کیسه، له چا پته ساتم چې
زه نه وچـوم ستـــــرګې، په دستـــــمال د یارانې

په تامې پیـــــــرزو نه شـي، خپل قاتل سره یاري
الله خـــــو دې زر راولـــــــــه ، زوال د یـارانــــې

چې ښه ډیــر چا وژلي یو، هغوی ښه لمانځل کیږي
هم دلته، او هــــــم هلتـــــــــه ، په مډال د یارانې

موږ پریږده چې له ګل،ګل پـرهرونو نه، خوند اخلو
یو ورځ به رب ته وړانــــــــدې کړو، مثال د یارانې

ای! یاد مو شـي که نه یارانو، فکـر ته مو پام دی؟!
ای! ځومـــــــــــره خوندور به و، جنجال د یارانې

کوچــیه ځوانیــــــمرګه! کله ورک شي، پسې ورک
بلا مـــــــــــــوده دې نه راځـــي، احوال د یارانې

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د مرګ او ژوند تر میـــــنځه وه را ګېره هغه ورځ
آخ شکر چـــــې په خیر سره شوه تېره هـغه ورځ

د مرګ له ســـرو منګولو یې خلاص کړی و ګریوان
!یه وخته! ســـتا به یاده وي، که هېره هغه ورځ...؟

په تریو تندي مې ستـــا د یاد سلام واخیـــــستو ځکه
د غم لښکر مې زړه نه و چا پـــــــېره هغـــه ورځ

آخ ! کـــله به مې راشـــــي په مالت هغــــــه شـــپې
چې زړه کې د چــــــا نه وي، له چا وېره هغه ورځ

د رب د میلمستــــــــیا د خوړو هم عجیبه کیف وي
خوړلې چې روژه وي چـــــــــــا په هېره هغه ورځ

پوره شه پکــــــــې ســــــتا او د یارانو ار مانـــــونه
کوچیـــــــــه! یادوې چې هر وخت ډېره هغه ورځ

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

له ځان سره به کړې، د ګوتـــــــو شمار لکه یو څوک
وهي به دې یو ورځ ،د چـــــــــــا ازار لکه یو څوک

د ژوند په ښایـــــــــــــستو-نو او رنګونو زړه ورنکړې
له ژونده به دې زړه تـــــــــور شي، کرار لکه یو څوک

یو څوک راته مُـسکی شي،پښـــــه نیولی شي او راکړي
پرمخ مې د پســـــــــــتې څپـــــېړې وار، لکه یو څوک

ملګرو ! افرین شـــــــــــــه،- چې لا نه لیونی کیږي !!
په زړه وړي د بلا غــــــــمونو بار ، لکه یوڅـــــــوک

ترخنګ ، که دې تـــــــیریږي بې سلامه،پام یې نه وي
کوچی دی ، د ژوند ســـتونزو کې ایسار، لکه یو څوک

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دا د کومې ګناه تور په مســــــــــلمان دی؟

چې وحشت اخیـستی زور په مسـلمان دی

بیا یې چېرته د ژوند بار په سر اخیـستی؟

چې تنګ شوی کلی،کور په مســــلمان دی

د نړۍ زړه یې په وینــــــــــو- نه یخیږي

دا د چا د وینـــــو پور په مســــــلمان دی؟

د وحــــــــــشت د نوي باب خونړی راج بیا

له برما پس د ایغـــــــور په مســــــلمان دی

په خپل ځان یې هم څوک نه پرېږدي ژړا ته

له هر خوا چـغې او شور په مســــلمان دی

خامخ ا یې د درد څړیکې زړه ته رســــــي

دردېـــــــدلی چې کوم ورور په مسلمان دی

هغه شـــــــان بیا پورته نه شو له مودو نه

د خپل بخت څــلی نسـکور په مسلمان دی

که غـریب دی، که خفه دی،که ټوک،ټوک خو

د کوچـي زړګی ټکور په مســـــــــلمان دی

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

چېرته لرې تللـــــى يې ، موده وشــوه چې نه راځې
زه درپــــــــسې درشــــــمه كه نه ، ووايه تـه راځې

ستا خو په سينه كې كانى زړه ؤ، چېرته لاړ وې چې
بېرته اوښـــــكې سترګې او په زړه اوبه، اوبه راځې
څنګه د چا ياده ، خير خو دى، وخت دې بدل نه دى؟
مخكې به ماښـــام راتللې ، اوس په لمر خاته راځې
ولې زَړَه مينه راســــــره هغســـــې نه پـــــالې؟
ولې مې اوس خيال ته د چا خياله زړه نا زړه راځې
بيا به مــــــې په هيلـــــو را پـرېـــوتي دېوالونه وي
!بيا به مې د زړه دكنډر ، وران كلي تـه څــــه راځې؟
وه زمـا د شــــــعر ښـــــــاپيرۍ دا دې ونه ويل!
ته له كوم مـالت،له كوم تېر ، له كـــوم كاله راځې؟؟؟
څومـره مـــې چې ته له پامه غورځوې او بد دې شم
هومره مې بــــــس ته مغرور اشنا له پامه ښه راځې

شين له خندا سپين كوچيه لاړ شي، خو ماښام بېرته
بيا ځـــــــولۍ،ځولۍ ستړى، ستومانه له راغه راځې
سپين كوچى

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

روژې غوندې په خـــــــــوور مخ کــې تاثیر لري جانان
شعور لـــــــــــــري، احســاس لري، ضمیر لري جانان

دا خاندي چې، دا وخت ته خپل ځــان کـــم نـــــه را ولي
کــنه والله چې زړۀ کـــــــــــــې بلا ویر لــري جـــــانا

په حُسن کې پاچا دی،خو ځان ټیټ بولـــــي تـــــــــر ټــولو
خویونو کـــــــــــــې دا یــو خوی د فقــیر لري جـــانان

قسمت مـــــــــــې له ازل نه ویښــــې شـــپې راتــه راوړي
ســــوغات چې راته سترګو کـــــــې شـــوګــیر لري جان

سپوږمـۍ سره خپل راز د ویښو شپو ساتي خو بیا هــــــم
د لمـــــــــــــر پـــــه څېر له ستورو بیل مسیر لري جانان

په شونډو یې خـــــــــــــوره ، وره مُســـکا سپینه کوچیه
خو سترګو کـــــــې د زړۀ د درد،تـــــصویر لري جانـان

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

دلته اوس نه ودرېږي، چـــــا سره په لاره خــــــــــلک
دلته ویرېږي اوس د خپـــــــــل ســــیوري له ډاره خلک

د چا نادودو ته، تر څـو به دا دلیـــــل، تراشــــو چــــــې
خیر دی ناپویه دي، او پــــــوی به شي کراره خـــــــلک ؟

دلته غـــــــــونډارو بانــــــدې ســیوری د ژونــدیو ولي
خو بیــــــا ویــریــــــــږي د قبــرونو لـــــــه ازاره خلک

دلته د ورځې، لــکه شـــــــــــــــپه، خلک خـوبونه کوي
او د شپې ویښ، لـــــــــکه د ورځــــــــــې، تر سهاره خلک

دلته بـــــــــه خپل،ځوانـــــیمرګــــــي ارمان ته، خپله ژاړې
دلته کیسه کې د چـــــا نه دي،سپـــینه یـــــــــــاره خلک

سپین کوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک يې چې دسمال له کلي وباسي

ځـــان دي پوره کال له کلي وباسي

ما دي د خوسر لور چرسي نه بولي

خـــــلک دي دا مال له کلي وباسي

اې غـــربته زه خو دي پردېس کړمه

تا دي ذلـــــــــجلال له کلي وباسي

ما دي جانان نه شــــــړي له خپل دره

ما دي کليوال له کـــــــــلي وباسي

يو ځل دي لاسونه په مـــــا واچوي

بيا دي ما ضيوال له کلي وبـــاسي

ثنا الله (ضيوال)

دمام 2017/8/14

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

محبت ته مـــــــــــې اشنا لـــه وسه کيږي
غاړه راکړه که دې تـــــــــــا له وسه کيږي

د مرغانو د ستـــايلو وســـي نــــــــــه يم
خو نيولو ته مي بيــــا له وســـــــــه کيږي

چي تېکر خورې د پښتـــــون له تندې ســره
دغه څه رنګ د دنيا له وســــــــه کـــــيږي

په غربت کي چي پيزوان غـــــواړې د زرو
راته ووايه زما له وسه کـــــــــــــــــــيږی

ته چي هر ځای يی خوښې دي شه په برخه
بس زما خو دا دعا له وسه کيــــــــــــــــژي

چې دستا غوندې کور پريژی مســـــــافر شي
اې! [ضيواله] دا د چـــــــــــــا له وسه کيږي

ثنا الله (ضيوال)

دمام 2016/4/8

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا خپګان او نوی کال درپسي مرمه
ته مـي وګوره لړ حال درپــسي مرمه

یاره نه کــــیږي بې تا زندګي نه شــي
یاره داسي مي ده خیال درپسي مرمــه

زه غیرت یمه نیولی زنګ چي نه وام
ته هم نه کوي مِسکال درپسي مرمـــه

یا به مړ یمه د ستاسو په درشل کــــي
یا به یم په هسپتال درپســـي مـــــرمه

زما مړی به بیا دروړي سرحوضي ته
بیا مي وکړه استقبال درپـــــسي مرمه

کلیوال دي چي زما په نامــــــه بولــي
ټول خبر دي چي ضیوال درپسي مرمه
ثنا ضیوال، دمام 2017/3/21

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به نه یم خو شـــــــعرونه به مې لولې
دا لیــــــــــــــکلې دیوانونه به مې لولې

زما یارانو به غمجن داستان پرې ګل وې
د خړ قبر بیراغونه بـــــــــــــه مې لولې

که دې پیر شومه نو بیابه هم شــــکې یې
درته جوړ تړول تعویذ ونه به مې لـــــولې

ما به تاته وې لیکلــــــــــــې په کاغذ کې
په زړهاؤ ارمانونه به مـــــــــــــې لولې

ستا بڼو به پرې لیکلی ضیوال جــــان وې
د سینې پـــــــــــه سر داغونه به مې لولې

(ضیوال)

دمام 2016/3/23

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلونو غاړه ږدم مســــــــافري تــــه
اوښکې مه تویوه ځم مسافـــــــــري ته

له جنته په خوښې ځوک ځي دوزخ تــه؟
غریبـــــــــي ده کور پریږدم مسافري تـه

جمع کړي مې په کور کې نه راتــــللـې
ډنډې ډنډې اوښکې وړم مســــــافري تـه

سم قیامت ؤ آه صحنې په ما جــــــانانه
زه چې کله درنه تلم مســـــــــــــافري ته

ستا یادونه دې او سخته بې خوبــــــــې ده
ګرانه کله به شم تم مســـــــــــــافري ته

د ضیوال له زړه نه یو الله خبـــــــر وي
اې !ملګرو چې راځم مســـــــــافري ته
دمام 2016/5/22

(c) ketabton.com: The Digital Library

کجل په سترګو پــؤرې ګنډ په سینـــــه

بیا مې چې ګرانې کړي درلنډ په سینـــه

خدایه ته پڅ کړي د جنګونو تـُبــــري

چې بیا پښتون نه کــړي برغونډ په سینه

ستا د سینې د بـــــــاغ میوه نه خورمـــــه

تا دې جانانه خدای کړي شنډ په ســـــینه

له پکتیکا به دې جــانانـــــــــه بــیایم

سـیل به کاوو د مـــــــــلاګنډ پـــه سینه

د ضـــــیوال دې سپیره عادت ته ګورئ

هر څه ترې پـــاتې وي' وې رنډ په سینه

دمام 2016/6/20

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نه کړي پرې اثـــــــر دا دي قلم غزل
یار ته به لــــــــــیکم د زړه په دم غزل

اې شـــــــــــاعره یاره یو خو ووایـــه
ګوندي چي مي کم کړي د زړه غم غزل

یاد دي زما زړه په خپګـــــان واړوي
یاد دي په ما ولیکي ډیر ســــــم غزل

ما ساده د یار لیـــدو ته ورولــــــــــئ
نغد یې رانه واخلئ چي راځــــم غزل

مه یې لوله بیا به دې غمجنه کــــړي
ګرمه یې پـــــــخپله بولي ګرم غزل

پاتي رانه کلـــــــی وطن کـــور کړلو
ځکه ضیوال لــــــیکم په صنم غزل
ثنا ضیوال ، دمام 2017/4/8

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

تاته انتـــــــــظار به یمه تـــول عمر
یاره په دي لار بـــــه یمـــه تول عمر

خدایه که ګنها وي د جانــــــــان مینه
خدایه ګنهګار به یمــــــه تول عمـــر

ښکلو دا سوچ مه کړئ چي بوډا شومه
ستاسو طلبګار به یـــــــــمه تول عمر

زه لکه زخمي مارغه زما اشـــــــنا
تاته په چغار به یمه تول عمـــــــــر

ستا د محبت په مدرسه کې جـــــــــان
بوخت په استغفار به یمه تـــــول عمر

تا لــــــــــــه ما ضیواله سترګي واړوې
دربدر او خوار به یمه تول عـــــــــمر

ثنا ضیوال، دمام 2107/3/24

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ماته د ماښام اذان کي ته راکـــــــــــوه زر اوبـــــه
زړه ته مي لا کيږي په روژه کي مازديګر اوبـــــه

پيغلو د نکريزو لاس وهل پکي ما وڅيـــــــــــښې
وې تر روح افزا هم خوندوري د ګودر اوبـــــــــه

ما به درته وېل په عشق کي څه دي ښکلو څه درکړل
تا به وېل زړګـــــــــــى اوبه دماغ اوبه ځيګر اوبه

ما به په فيسبوک کي ســــتا تصوير کاتو خو نه به ؤ
خلکو به غوښتلي لـــــــــــه نلکيو په ســـفر اوبه

چا درته مينځلى ده په منډه کـــــــــــي په بر ګودر
څاڅکي څاڅکي څاڅي دي ضيواله لـــه څادر اوبه

پاکستان پنډۍ

2018

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ماته دې لاس راکړ او مانه شوې فنکاره ورکه
دا ته نو چـــــــيرته يې لږ راشه انتظاره ورکه

بيرغ په لاس کـــــې يم، د ډزو تماشې ته ولاړ
سترګي مې نشته او لـــه مانه ده هينداره ورکه

ما پسې لاس نه وو او خلـکو رانه غوښتې ګوتي
ما پسې لاس نه وو او تـــه هم وی چيناره ورکه

يقين ته وکړه!ما يي نښي وي، پوره کال ساتلي
يقين دې وشه هغه څوک ده اوس له ښاره ورکه

تا پسې لاړ شي او ماښام شې بيا يواځې راشې
ارمانه!څه شوي؟ له دې ټول کلي ده لاره ورکه

نصير(آرمان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

!ستا له فکر څخــــه هېر یم، عزرائیله

!زه له خــــــپله سره تېر یم، عزرائیله

په تـــــــا دومره باور نه لرم چې راشي

!د ورک شوي روح په څېر یم،عزرائیله

په ژوندې تصویر مــې سمې کانې وکړه

!له تش ځان نه را چــارپېر یم،عزرائیله

!په یو داسې ځای کې اوسمه چې افففف

!په هر لورې تېر او بــېر یم، عزرائیله

زهر پاشو ته یې زهـــــــر دي ساتــلې

د ارمان! نیمګړی شېر یـــــم عزرائیله

نصیر(آرمان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ځان په ځـــان وهم ولې؟

خلــــــــک قتلوم ولې؟

ای!تصویره دا ځــنګه

ژبه درته خورم ولـــې؟

زړه! په بلا واوېښتې

داسې دې زبېښم ولې؟

وای، ژړا عادت مې شوه

سترګي ځوروم ولــــې؟

زه دې ښه شیندلـــې وم

تا راټولوم ولـــــــې؟

هیلو ته مې اور ورکړ

یو (ارمان) ساتم ولې؟

نصیر(ارمان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

مرګه بې مودې درغـــاړې وځمه
راشه که راځې درغـــــاړې وځمه

خپل قسمت ته څنګه سزا ورکړمه؟
دې مې اندیشنې درغـــــاړې وځمه

ستا وعدې په نن سبا کې تیرې شوې
ښه شو بې وعـدې درغاړې وځمه

بیا مې له تصویر نه سترګې ولویدې
مړ شومه خــــوږې درغاړې وځمه

ای! ارمانــــه! ته چې په دې لاره تلې
مـــــــــا به تل لیدې درغاړې وځمه

نصیر ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

زمـــــوږ ناريې له سمي غَره وځي
رشوت خواره اوس له دفتره وځي

ستا د کـــافر حســـــن کـافره مسکا
د مينې زور مــــــې له پـرهره وځي

په رڼـــه ورځ باندې مـــابنام راشي
چې مـــسافر د کور لـــــه وره وځي

ستا دديوال سيوري تــــه سيخ درشمه
د بل چــــا کور مـــې له نظره وځي

الفاظ راغونډ کړه، او بيا جوړ کړه غزل
کنه!نو تــــــــــوري له هنره وځي

پـــــه روح مې لاس کيږده او دا ووايه
چـــــې زما ساه د چـــــا نه بره وځی؟

!په دې دوه مـخې مـــــلګرتيا ارمانه
د چا له خولې ښــنګه خبـــره وځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصیر(آرمان)

غزل

یوازي ناست یمه کوټــــه ده او شرنګا د وره ده
د باندې ورځ ده دلته شپه ده او شرنګا د وره ده

یو څه له ځانه او یو څه له مړې دنیا نه ډار دې
ځان سره ایښي مې باجــه ده او شرنګا د وره ده

د ونو باد ده شنې شنهی ده او شپیلک وهی څوک
د کتاب پاڼه سرچپه ده او شـــــــرنګا د وره ده

ځان مې خوړیږي زه له خپله درده نــه یم خبر
د دروازی مې اندیشنه ده او شرنګا د وره ده

څادر مې ایښی دی په څنګ کې او رڼا هم نشته
د ارمان بیا څوک میلمنه ده؟ او شرنګا د وره ده

نصیر (ارمان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تل ناکام ژوندون کومـــــه په دې ښار کې

ټوپک ځان سره ســـــاتمـــه په دې ښار کې

زندګـــــي راتـــه د مرګ دعوت راواستاو

ځکه پټ پـــــټ پسخیدمه په دې ښار کې

د یو چا لپاره لس مـــــــړي کـــــــومه

د یو چا لپاره مرمه په دې ښار کـــــــې

ما ساتلي وي ریښتیا رښتیا خـــــــبري

په دروغو شرمیدمه په دې ښـــــــار کې

زړه مې نه وو خو تر اوسه مې کـــــوله

شاعري په تا صنمه په دې ښار کـــــــې

چا به لاس راکړ ارمانه! چا به سپک کــړم

داسي خلکو لویومه په دې ښار کـــــــې

نصیر(ارمان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا پسی تړی شم او تا پسې اوبه شیندمــــــــــــه

دنیا دې ړنگه شي دنیا پسې اوبه شیندمــــــــــــه

د محبت په سترګو بیا هوا کړی خاوري خـــورې

محبت خوړ دي په هوا پسې اوبــــــــــــه شیندمه

له هغه کوره د یتیم بچي زګــــــــــیروي راووزي

ځکه کوڅه کې نن هر چا پســـــــــــې اوبه شیندمه

هجران یې ښه وو اوس وصـــــــــال ته به ملا تړمه

تعبیر د خوب وو چې لیــــــــــــلا پسې اوبه شیندمه

په موږ فتوا ورکړي ارمـــــانه! ځان ته هیڅ نه وایي

په مـــــــــــــــلا اور بل وي ملا پسې اوبه شیندمه

نصیر(ارمان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زما د سترګو دا رڼا دې مانه څوک نه اخـــــــــلي

ماته دې مرګ راشي خو تا دې مانه څوک نه اخلي

زه چې وم تږې تا په لپو کې اوبـــــــــــــه راکوی

مورکۍ دعا کړمه ستا ساه دې مانه څوک نــه اخلی

ژوند نا کرار دی نصحیت د ناصیح هر وخت اورم

په لیلا رنړ شمه چې دا دې ما نه څـــوک نه اخلي

زه دې ژړیږمه خو ستا خوشحـــالي زیاته شه ده

زه دې ژړیږم ستا خندا دې مانه څــوک نه اخلي

د زړه په سر مې د غزل تناکي بیـــــــا وچاودي

ارمانه! خلک ددنیا دې مانه څوک نه اخـــــــلي

نصیر(ارمان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

په ځان مين يــــــــــم له ازاره په ما څه شوي دې؟
په خوب کې چيغه کړم له ډاره پـــه ما څه شوي دې؟

.سودايي شوی يم په خپل ګريوان مي کرښـــــې باسم
ورته معـــــــــــلوم شمه په لاره په ماڅه شوي دې ؟

په مسنجر باندي يې ژر ژر وويـل تــه چيـرته يې
زړه مې ټالی خوري نا قراره په تا څه شوي دې؟

چې تا ټيـکری واچـاوو چيغه دې په زوره وکــړه
شه څه مطلب دې وو له ځـاره په ما څه شوی دی؟

ذکي دا وخـت به ورتــه وايې بيا دهـــــيڅ نه ژاړي
څه ته را درومې تر مزاره په تا څــه شــوي دې؟
نوروز خان (ذکي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانتظار شیــــــــــبې به ما نور ځوروي لکه ته
مابه نور ځان ته ګرځوي او مابـه خوري لکه ته

!!په بـازارونـــو تـر هماغه ځـای راغلی یمــه
چی څوک به داسي انځورونه خـــرڅوي لکه ته

له دې هـنر سره هم پاتي راغــــــــــلم نه کیدلو
دسیندپه غاړه هرسړی څوک رسمـــوي لکه ته

ذکی دې ناست وی او همدغسي ګزران دي کوې
شه کاروبار ده دشپې ستوري شماروي لکـه تـه
نوروزخان(ذکي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه خبر ده! اوازونه راپســـې دي.

دچا چيغي دې اهونه راپســـې دي.

تورشپه ده او وحشي شانتې سيلۍ ده

له شا تور تور نقابونه راپســـې دي

د بدرنګې زمانې له هره کـــونجه

د اورونو ځنځيرونه راپـــــسې دي

زما کارونه دي اوستا هـــغه هنر ده

دا له شا چې کاروانونـــه راپسې دي

د ادکې مـورې چيـــغې را رسـيږه

د وحشـــــــيانو کتارونه راپسې دي.

وا! ذکي لکه بې څوکه څوک ولاړ ده

غريب نيولی دی غړونه راپسې دي

نوروز خان (ذکي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چـا زمـا زمـا د چـا په وينـو سـره لاسـونـــــه
داسی حالاتو راته ايشي دې به خوله لاســـونه
د اسلاميـت او افـغانيت نـــه، بغاوت ده کنــــــــه
چې مسلمان ورور ته مي ايشي په سپاره لاسونه

وحشت يې داسي خور ده ژوند ته تمناه نه کـــــوي
هـر چـا نيولـي دې په خـپله مقبـره لاسونـــــــــــه

د پـــښتنې پيغلې په دې بـيوسې وژړيـــــــــــــدم
اه!! رســـم کړې وو د کـــور په دروازه لاســـونه

د جنګ اورجنه لمن ټوله کړئ او سوال مو واخلئ
له پلوو سره دي ليک په ديواله لاسونـــــــــــــــــه

له تندي مړ شه ذکي لمونځ ورباندي هم مـــه کوه
دې سمندر کې يې مينځل په وينو سره لاســـونه
نوروزخان(ذکي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غـــزل

تا لېدلی دې وړې د ژړيــــــدو درد؟

هره شپه زه تیروم د زړه بـــــنو درد

حافيظې نه مې وتلـــــې ځو شعرونه

خدای دې نه وينې په چـــا د اولادو درد

موږ که درد لرو ايښه يې لږ راکم کړې

خو چا کم کړلــــــــــو ددغو آيېنو درد

دا ببلتون هم جهنم ده خو په ژونـــد کې

قيامت دې په والله د بېليـــــــــدو درد

اوښکې مه پټو پوهيږم چې خــــــپه يې

راته ښکارې دې نــــــازکي په ليمو درد

اوس له اوښکـــو او غمو سره عادت يم

ځــــــــان ته اخلمه اتله په پيســو درد

نصيراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـــزل

په رســـــــــم شوي انـــځور ځان ته تسلي ورکوم
دې تنهايي ته ځـــــــــومــــــره زور په تنهايي ورکوم

ياد دې وړوکی را زلمــــــی شو زما د زړه په کور کې
رانه دې نه ځې اوس زه ميــــــــــــــنه د بچي ورکوم

ځو کاغذونه مې راوستې په خبــــــــــــــــرو باندې
ځو کاغذونو ته لا اوس هم ژندګي ورکـــــــــــــوم

د يو ناشناخته محبت درد مې په زړه کې اوســــــــــي
زه يو پردې ته د خپل کور زموارې ورکـــــــــــــوم

اتله غواړم يي له خـــــــــدای نه اوس په هر لمانځه کې
که زما نه شوه خپله ســــــــــاه نو سمدستي ورکوم

نصيراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

آلوتلې اروا راغله دوباره د ځـــــــان سایې ته
چې څهره د تللې کس مې مخامخ شوله څهرې ته

ستا دنه راتلو احساس د جهنم یوه لـــــــــهزه ده
خپل معصوم نظر مې تت شو په کتو د دروازې ته

انتظار نه ستا دیاد نه او بل زور د تنهـــــــایې نه
اخیري سلګۍ مې راوړې دغه ځای د مخه ښې ته

چې دې وخت و نه را تللې نه دې غوښتم آې مغرورې
اوس نو ژاړه ښه په چیغو زما پاتې نښانـــــــــې ته

نن مې وکتل باران ته څو وعدې مې دې په زړه شوې
وخ مارغان مې کړل د ننه بیا اتله پنـــــــجرې ته

نصیراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د تنـــــــــــــــــهايــــې د بيلتانه د اذيت دردورنه
څومره مې تير كــــړل په خپل زړه د محبت دردونه

د زړه تنګون، يوازيتوب او خاموشـــــــي اوف توبه
بيا را تازه دې كړل بارانه د فطـــــــرت دردونه

عشق كې ناكام شوم دوزخې شوم ګنهګار شومه زه
راته را وښـــــــــودل ستا ياد د قيامت دردونه

دا چې مې وينې په خـــــــندا كې نو دا داسې نه ده
په اندرون كې زما شتــــــه د خپل قسمت دردونه

نن مې په ډک زړه ورتــــــــــه وويل اتله داسې
ته راكوه زه دې ساتـــــــــم په زمانت دردونه

نصيراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـــــزل

بې ساه وجود نه مې مزه واخېســـــته

هېر شــــوي کس زما نامه واخېستـه

ما ویل ستا یـــــاد رانه خپه لاړ نه شې

په بېوسۍ کــــــې مې ډېوه واخېســته

د تنهایۍ نه به پــــــرې ځان ساتــمه

په خاموشۍ مې آیَـــــــېنه واخېــسته

د زندګۍ په انتهـــــا کـــــــــې یمه

تانه چې لږ مــــې فاصیله واخېـــسته

اتـــــــــله څومـــره به مې ودردوې

د بیا راتلـــــو مې ترې وعده واخېسته

نصیراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بیا به دې ځـــــان نه هم ګیلې راځي، خو زه به نه یم

اوښکې په مخ به دې دوه درې راځي ،خو زه به نه یم

د بیلتا نه لـــــــــــه درده مــا چرې خندا ونـه کړه

ژونده په تا کې به مــــزې راځې، خو زه به نه یم

!ستا په شتوالې کې داستا نه شـــوم خو وروسته به آې

ستا په شان ډېرې قوارې راځــــې، خو زه به نه یم

زما د خولې اظهار اوس شرم د خــپل ځان نه کوي

د هو ځواب چې د هغې راځې، خــــو زه به نه یم

اتله شپــــــه به وې ډېوه به وې باران به هم وي

ژوند کې به دغســي صحنې راځې، خو زه به نه یم

نصیراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـزل

یخه یخني ستا دتودي غیږي ارمـــــــان راسره
تنهایي ونه شوه روان مې کړو خپل ځان راسره

د نفرت حد دې په والله چې زه به ځــــــه ووایم
دوه درې قدمه په لار نه ځې مسلمـــــان راسره

وایه نو ځنګه به خوشحال په زندګۍ کـــې یمه
چې وې دژوند هره لهزه کې هر شی وران راسره

په زړه مې لاس ونیسم ښه ژوره ساه واخلمه
چرته ناڅاپه مخامخ چې شي جانان راســـره

یه د ډاکټرې یاده څومره زورور یي په خدای
زه چې ژړیږمه ژړا کوي اسمان راســـــره

نصیراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غــزل

داچــې ستا یاد ګرځوم لـــه ډېره وختـه
زه یو غر په اوږو وړم لـــــه ډېره وختـه

ستا بڼو نه جوړه شــــــــوي هغه ستنه
په پرهر کې ماتـــــــــــوم له ډېره وختـه

د خــــــپل غم سره رشته جوړول غواړم
سوال زاریٔ ورتــــــه کوم له ډېره وختـه

اخیر هم مې دا خپل ځان راباندې پوه شو
زه چــې غــــــــلی ژړیدم له ډېره وختـه

آیـیـنـې ســره اتــــــــلــه ګرځـیـدمـــه
تنهایي نه پـــــــــتېــدم له ډېره وختـه

نصیراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د تنهايې احساس مې خورې لکه لړم لګيادې
دا يو سړی د څه مودې نه په ځم ځم لګيادې

د ژوندانه تمثل نور نه شم کوای نه يې کوم
لابه تر څو وايم چې وخت راسره سم لګيادې

د زندګۍ په اميـــدونو مې اوښتې خـاورې
له بلې خوا مې بربادۍ کې داستا غم لګيادې

خدايه ج داستا دبندګۍ د غافلۍ له وجــهې
ديو آدم په بندګۍ کې بل آدم لګيـــــــادې

دا دکـافرو يادو جبر دې نصـــــــــيراتـله
پر له پسې چې مې باران په مخ د، نم لګيادې

نصيراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـزل

داچــې ستا یاد ګرځوم له ډیره وخته
زه یو غر په اوږو وړم له ډیره وخـته

ستا بڼو نه جوړه شوي هغه ستنــــه
په پرهر کې ماتوم له ډیره وختـــــه

د خپل غم سره رشته جوړول غــــواړم
سوال زارۍ ورته کوم لــــه ډیره وخته

اخیر هم مې دا خپل ځان راباندې پوه شو
زه چــــــــې غلی ژړیــدم له ډیره وخته

آیـینــې ســــــــــره اتلــه ګرځـیدمــه
تنهایي نه پټــــــــــیدم له ډیره وخته

نصیراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

اوس مې زړه ستا په يادو باندې خوشحال وي
هـر ماشــوم په غوبارو باندې خوشحال وي

دلتـــــــه خلــک د بل چاڅنګ ته کینی نه
دلـــته خلــک په ځانو باندې خوشحال وي

داچې اوس راته په چوف باندې سر دي
بـــس همدیَ مې ژړيدو باندې خوشحال وي

ولي زه به ســتا غمو ســــــره خندا کړم؟ ؟؟
ليوني په ځنځيرو بـــاندې خوشحال وي؟

له مـــــــــودو پس يم راغـلی راته ګوره
تږي شــــوي په اوبو باندې خوشحال وي

د اتل خـــو مـــــــې همدا بېغوري وژني
چې په خــپلو اسويلو باندي خوشحال وي
نصير(اتل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ساه مـــــــي په وجود كي ګيره شوي ده
ښـــــــكاري چي هغه مي هيره شوي ده

داچــــي دي بيلتون رانه لاس واخيستو
ګـــــــوره چي خندا مي ډيره شوي ده

درده چي داستا دغم هم نه يـــــــــمه
ګورې چي ځواني مي تيره شــوي ده

ته چي راسره وي هلته ښـــه وه خو
اوس دا زندګي مي ســپيره شوي ده

تاچي ويل اتله ستا پــــه نوم يې ږدم
راشــــــــــه هغه پاڼه بيره شوي ده

نصيراتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زه تاتـــــه کړ م دعا،ته دعاماته کړ ه نازکي

روژه ده، سوال قبليژي لاس هواته کړه نازکي

دخدای دمهربان اومـــحترم ذات لـــه درباره

زاری دامن تولي پښتـــــونخواته کړ ه نازکي

سيالي ضرور ګټم خو؛ګوره داکارته هم وکړه

تپه دمـــــــلالۍ راپســــــي شاته کړ ه نازکي

!اي!تا له دي حا ضير متـــکلم سړ ي نه، نه ده

مکتب او مدرسه دي ترينـه پاته کـــړ ه نازکي

اي! تاسوخوآذان په خوشا لـــــــيو بد رګه کړ

وخ!ما په تړ مو اوښکـو روژه ماته کړ ه نازکي

يوچاراته قيصه دلـــيوني فيـــــــــــضان کوله

سلګۍ به يي ورو،ورو،ورسره زياته کړه نازکي

ګلبدين (فيضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دومره ښایسته یې چې هیڅ نه لرې مثال ماښامه
اخ روژه مــــــــــاتی،اخ دکلي کلیوال ماښامه
یو خواروژه،بله ګرمــــي بل خواته ښه پوهېژې
هله ژر راشه یم اوښـــــتی په جنجال ماښامه
ستا دغروب هاغــــه لړ سره،هاغه دوینو پټۍ
بیانوي دزیندۍ شـــــــوي منصور حال ماښامه
شکر،ډاډ ه شومه دعــطرو بوی کوڅه کې لاړ و
شکر راوړي ستا دراتـــــلو زیری شمال ماښا مه
هغه ملنګ و، که فیضـــــــــان و،ومې نه پېژانده
ولې؟زمادنظر مخ ته شوې دیـــــــــوال ماښامه
ګلبدین(فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

رسمومه انځورګره انځورګره انځورونه
شروع کړي مـــــــي له سره انځورونه
بلا اوښکي تویول ورتـــــــــه لازم وي
بلا درد لري اکـــثره انځورونــــــــــه
دیوچا په تلاش دارتــــه یو ختلـــــــــي
اوس مو ځاځي له پرهره انځورونــــه
دنښترو په شملویې سینګار شــــــوی
ښکلوم دي سلیمان غره انـــــــځورونه
لړېه تلو تلو کې زمـــــا په طرف ګوره
درنه بـــــــــــاسم مســافره انځورونه
پورې ځــوکې ته شپونکی فیضان ختلی
رســـــــــــموي له مازدیګره انځورونه

ګلبدین (فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مړه پرېږ ده دی دي هم راباندي پوه شي
پروانه کړي چې ټــــول سم راباندپوه شي
بیامي نه چـــــــــــېړي بیالړه ګوزاره کړي
کله کله دې چې غم راباندي پـــــــوه شي
مه څیرم یــــې ،مه څیرم یې ،مـه څیرم یې
څیري ښه دی چې ټول چم راباندي پوه شي
ترهغو راتـــــــــه په سپـــکو سپوروسروي
چې مي وکړي ستــرګي نم رابـــاندي پوه شي
وخ دکلــــي ماشومان راپــــــــسي ګوري
وخ له کلــــــــي چي راځم راباندي پوه شي
واه!فیضانه داســـــــــــتاد راباندي شک دی
چي د ف توری لیکم رابــــــــــاندي پوه شي
ګلبدین (فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

نورچاته نه ښایمه لوی اوهـــــم واړه دردونه
همداسي پټ ښه دي زمادزخمـــــي زړه دردونه
دچادلا سه بس همدومره ســـــــزا بس ده زما
په تش کتو باندي يې راشـــــي په ما مړه دردونه
وخ خدايه بيا دکــــــــلي هآغه هديره کې تېرشوم
وخ خدايه بـــــــــيايې په ماراوسنل زاړه دردونه
يومسافر غريبي مورته په غريب غريب کي وايي
دســــــــــفرېنـــــــدوکي مې بندپه بند تړه دردونه
هلـــــــه ژر ژر که،دفيضان په نوم دمګردی هلته
ترهـــــــــآغه پوري غرني کلي دې وړه دردونه

ګلبدين (فيضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ځوک یې ددومره تپوس نشته چې داولي ژاړي

ددروازې ترشـــــایوځـــوک درپسي غلي ژاړي

تا په دعاکې یــــــــــــادوي اوبیاسلګۍ هـم کوې

درپسي هرلمانځه کې هـــــــآغه نازولـــي ژاړي

دکلیوالي زړه دې دومره نــــرم شـــوی دی اوس

چي ماشومان هم ورته ستانـــــامـــه اخَلي ژاړي

زموږدښاردنجونو هیڅ خندانصــــــــیب کې نه ده

زموږدښارنجوني اکثرچې مالیــدلــــــــي ژاړي

هغه چي تیر کال به یې دلته زمــــزمــــې کولې

هغه کوچۍ سږکال دغره سرتــــــه ختلــي ژاړي

لاسونه پورته کړي دعاکوي اومن غـــــــــواړي

واه،څه له درده ژاړي واه،څومره سپېڅلي ژاړي

اې!دادي څه کېږي فیضانه دادکو م کـــلـــــــي ده

زموږ کوځې ته څوک په تاپسې راغلــــي ژاړي

ګلبدین(فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

په دغـــــه ښارکې دهرچاراپسي پام شوی دې

اخ په نـــــازک وجودمي حکم داعدام شوی دې

يو اعـــــلان واورئ کليوالو جنازې ته راشئ

زما دټـــــــــولو آرمانو نو قتل عام شوی دې

دسپين غر څـــــــــوکي ته ختلی يم نارې وهمه

هله ژر راشــــــــئ دجنګو نو اختتام شوی دې

په نافهمۍ کـــې مي په زړه باندي لوی جبرکړی

په نافهمۍ کـــې مې نظرپه پوري بام شوی دې

په هـــــغه کــورکې دفيضان نامه ويل جرم دی

په هـــغه کورکې خو بنديزپه دغه نام شوی دې

ګلبدين(فيضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هیــــــــچا هــم ونه کړ ددغي بیمارۍ علا ج

ولـي هیـــــځ نه لري دااوښکي اوسلګۍ علا ج

دومره سپېـــــــځلي مـــقدس مرض نیولی یمه

زما دسپېځلي زخم نـــــــــــه لري نړۍ علاج

دافغانۍ خاوري یو دغه خـــصلت خوندراکوي

ژرېکي وشي دسرکـــــــــــــشه ککرۍ علاج

هغې په تاپسي و زهر زورور ځـــــــــــښلي

ځکه خو ونه شو دهاغي لېونۍ عـــــــــــلاج

خپله دعاکوم اوخپله پرې آمین وایمــــــــــــــه

پام چې ځوک ونه کړي زما دتنهایۍ عــلاج

دهرجومات له مناري ورته سلګۍ وهــم نور

فیضانه نه راځي دقام دبېغورۍ عـــــــلاج

ګلبدین (فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

که دکلي که دښار مسلمـــــــــــــــــــاني ده
په اکثروکې دډارمسلـــــــــــــــــــــماني ده
ځکه جنګ دپښـــتانه کورکې میلـــــــــمه دی
پښتون کړی نن پـــه جار مســـــــــــلماني ده
دټوپک خوله دې کنـــــــټرول کړه صبر،صبر
ګرانه لړشه درایسار مسلـــــــــــــــماني ده
وایې لمونځ هــــــم درقیب جومات کې نه کړم
څومره ښکلـــي مي دیار مسلمانــــــــــي ده
ببرسري یتـــیمان درپســـــــــــي ګرځـــــو
سولـــي وکړه راتـــــــه ځار مسلـــماني ده
څـــوک؟فیـــضان دي دیارکلي نه شـــــړلو؟
اې مــــلا درتـــــــــه په کال مسلمــــاني ده

ګلبدین (فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خوب رانه لاړشـــــــــې تل کومه ستړي ستړي سلګې
ته نـــــــــــور قبولي کړه اې!خدایه زما کړي سلګۍ
داپه شیـــــــبو شیبو بــــــــــاران او وهشتناکي ټکي
دایو یتیم تر دغه ځــــــــایــه دي راوړي ســــــــــلګۍ
! ظالـــــمه قـــــــــدر یې کوه هـــسي یې مه بوله اې
درته به تندرشي یووخت ددې زوی مړي سلـــــــــــګۍ
یواعلان واورئ !اعلان واورئ !نوریې هیڅ ونه ویـــــل
له منارې نه دجومات شوې نـــوري لوړي ســــــــلګۍ
فیضانه ستړی مسافروم پـــه آرمان شهـــــــــــــید وم
چې راوتې مې دتا بوت لـــــــــــــه هري دړي سلګۍ
ګلبدین (فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نړۍ ته جنګ اعلانومه دقلـــــــم پـــــــه څـــوکه

هېواده تا ابادومــه دقلم پـــــــــــــــه څـــــوکـــــه

دسپین غر څوکه باندې لوی افغانستا ن لیکمـــــــه

څنګ کې یـــــې امن رسمو مـــه دقلم په څوکـــــه

دشهید پلا رهــــــــغه یـــــتیم سلګو نېولـــی بـــچی

که خدای کول قرارومه دقـــلـــــــم پـــــه څـــو که

داسلا مي نړۍ هماغه پـــــخوانۍ جذبــــــه بـــــــه

نړۍ ته بیا ورښکارومه دقـــــــلم پـــــــــه څوکـــه

بیا ونـــــــــــه کړې رقیبه پام داستعمار کوشش د ې

داخلي خوله درماتومه دقلم په څوکــــــــــــــــــــــه

فیضانه چرته که دسولې اختر دلته راشـــــــــــــــــې

ستر ګي به دواړه تورومه دقلم په څـــــــــــــــــوکه

ګلبدین (فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ما به لـــــمنه کې راوړې له پوري غـــره ډبرې
درقیب سرته مې اوس ایښــــــي دي پوره ډبرې
دلته هواسره سیالي مــــــــوړ.پـــــــه ډبرو کوو
لمونځ چې کوو هم راته ړ.دو په فڅادره ډبـــــــرې
ستا لېونی اوس لېونی دی والله سم لــــــېونـــــی
که باورنه کوې راځه پسي شـــــــماره ډبـــرې
تاته مې نه ویل چې دلته دوباره مــــــه راځـــــه
منل دي نه و،اوس پـه سرسر باندي خوره ډبرې
زموړ.دکلـــــــــــي یوشاعر دی دفیضان په نامه
هره شپه ولي زمـــــــوړ. کورتـــــه په تیاره ډبرې

ګلبدین (فیضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**